د هڅو دوران

د افغانستان د داخلي بېځايه شوو مېرمنو د بشري امنيت ارزونه

برين سلطاني ايمن

WOMEN'S REGIONAL NETWORK
AFGHANISTAN • PAKISTAN • INDIA

د هڅو دوران

د افغانستان د داخلي بېځايه شوو مېرمنو د بشري امنيت ارزونه

برين سلطاني ايمن

WOMEN'S REGIONAL NETWORK
AFGHANISTAN • PAKISTAN • INDIA

بېځايه شوې مېرمنې يو غږ لري،
دا نو د نړۍ دنده چې دغه غږ واورې.

فهرست

منته ۳
مخففات ٤
د لیکوال په اړه ٥
۱.سریزه ٦
۱.۱ د افغانستان د ښځو سیمه ایزه شبکه (WRN) او تولنیز بحثونه ٦
٤.۱ خنډونه او محدودیتونه ۸
۲.۱ د څېړنې موخې: ۹
۳.۱ د څېړنې ساحه او میتود ۹
۲.په افغانستان کې بې ځایه کېدنې (نقل مکان) ۱۰
۱.۲ ګاونډی هېوادونه ۱۰
۲.۲ کندز او تخار ۱۰
۳.د افغانستان داخلي بې ځایه شویو پالیسی ۱۲
۱.۳ د داخلي بې ځایه شویو ملي پالیسي پلي کول ۱۲
۲.۳ بیړني بې ځایه شوي خلک د خوندي شویو یا ژغورل شویو بې ځایه شویو خلکو په وړاندې ۱٥
۳.۳ موده او زغم ۱٥
٤.۳ دوامداره حل لارې: خوندي بې ځایه کېدنې ۱۷
٤.بشري خوندیتوب او امنیت: د افغانستان داخلي بې ځایه شوې ښځې ۱۸
۱.٤ شخصي امنیت ۱۸
۱,۱,٤ د جنډر پر بنسټ تاوتریخوالی: د کلتوري معافیت اغېز او ننګ ۱۸
۲,۱,٤ ښځې، سوله او امنیت ۲۰
۳,۱,٤ جغرافیایي حساسیت ۲۳
۲.٤ د خوړو خوندیتوب ۲۳
۲,۳,٤ د میاشتینۍ ناروغۍ پرمهال روغتیا ۲٤
۱,۲,٤ د اقلیم بدلون ۲٥
۳.٤ روغتیایي خوندیتوب ۲٥
۱,۳,٤ د حامله مېندو او نوو زېږیدلو ماشومانو پاملرنه ۲٥
٤.٤ د چاپېریال خوندیتوب ۲٦
۱,٤,٤ د ځمکو امنیت او تذکره ۲٦
۳,۳,٤ روانې روغتیا ۲۷
٥.٤ اقتصادي خوندیتوب: ۲۸
۱,٥,٤ زده کړې: ۳۱
٥.د ځان ساتلو تګلارې ۳۲
۱.٥ امنیت ۳۲
۲.٥ بیړني پورونه ۳۲
۳.٥ د ماشومانو ودول: ۳٥
٤.٥ سیمه مهاجرتونه ۳٥
٦.پایله او وړاندیزونه ۳٦
۱.٦ پالیسي او وړاندیزونه ۳٦
ماخذونه ۳۸

مننه

زه د WRN موسسې لـه اداري څخـه ډېـره منـدوی يـم چـې د دغـې څېړنې د تـرسره کولـو فرصـت يـې راتـه چمتـو کـړ پـه ځانګړې ډول، لـه نايلـه ايـوبي او چيلـسي سـوډيرهولم څخـه ډېـره منـه کـوم. همدارنګـه د WRN د هېـواد مـشرې آغلـې فاطمـه کوهسـتاني څخـه د زړه لـه تلـه منـه کـوم چـې د دې څېړنـې د تـرسره کولـو لپـاره يـې ارزښـناکه هڅـې تـرسره کـړې دي، د نومـوړې د هڅـو پرتـه د دې څېړنـې تـرسره کـول بـه ممکـن نـه وو.

د ډاکټـر ياسـين ضيـا، نصـير صـادق او نظيفـه شريفـي پـه ګـډون د WRN لـه ټولـې ډلـې څخـه منـه کـوم چـې پـه دې څېړنـه کـې يـې د پـام وړ هڅـې کـړې دي.

زه د نيپـا بينرجـی، ريتـا منچنـدا، قـاضي نجـلا ايـوبي، زرقـا يفتـالي، هنګامـه انـوري، رخشـنده نـاز، جينيـت ويـچ اوبي څخـه ډېـره منـه کـوم چـې د ارزوونکـې پـه توګـه يـې د دغـه څېړنـې پـه اړه ارزښـت لرونکـې تبـصرې وړانـدې کـړې دي.

تـر ټولـو مهمـه يـې دا ده چـې زه د بېځايـه شـوو مېرمنـو او نجونـو څخـه ډېـره کـوم چـې خپلـې کيسـې يـې پـه ډېـرې زړورتيـا سره لـه مـوږ سره شريکـې کـړې دي.

ـ برين

د انځـور امتياز: نظيفه شريفي

د ډيزاين امتياز: کرسټين اينکرز، کيتراين سکاي ډيزاين

مخففات

ACTED	د تخنيکي مرستې او پرمختيا اداره
AREDP	د افغانستان د کليوالي سوداګريو د پرمختيا پروګرام
CC	ټولنيز بحثونه
DREC	د بېځايه کېدو او بېرته ستنيدونکو اجرائيه کميټه
FAO	د خوړو او کرنې اداره
FGD	د فوکس ګروپ بحث
GBV	د جنسيت پر بنسټ تاوتريخوال
HLP Rights	د کور، ځمکې او شتمنۍ حقوق
IDMC	د داخلي بېځايه شوو د څارنې مرکز
IDP	داخلي بېځايه شوی شخص
INGO	نړيواله غير دولتي موسسه
IPV	د نږدې ملګري لخوا تاوتريخوالی
MoE	د پوهنې وزارت
MoRR	د کډوالو او بېرته ستنو شوو چارو وزارت
NGOs	غير دولتي موسسه
NRC	ناروې د کډوالو ټولنه
NUG	د ملي وحدت حکومت
SSI	د ځانوژنې د مفکورې کچه
UNEP	د ملګرو ملتونو د چاپيريال ساتنې پروګرام
UNHCR	د ملګرو ملتونو د کډوالي عالي کميسيون
UNOCHA	د ملګرو ملتونو د بشري چارو د همغږۍ دفتر
USAID	د امريکا متحده ايالاتو نړيوالې پرمختيا اداره
VSLA	د کلیو سپما او پورونو ټولنه
WASH	اوبه، نظافت او پاکوالی
WHO	د روغتيا نړيواله اداره
WHO EMRO	د روغتيا نړيوالې ادارې د ختيځې مديتراني سيمه
WRN	د بېځو سيمه ايزه شبکه

لغات

قوم	په بنسټيزه توګه د يو ټولنيز واحد په توګه تعريفېږي
ګډونوال	دولتي چارواکي، غير دولتي موسسې، نړيوالې غير دولتي موسسې او سيمه ايز فعالين

د ليکوال په اړه

برين سلطاني ايمن

برين سلطاني ايمن يو خپلواک څېړونکی دی چې کارونه يې په بنسټيزه توګه د افغانستان د کډوالۍ، امنيت، ټولنيزو او اقتصادي موضوعاتو په اړه دي. هغې له دې وړاندې يوه ارزول شوې د پالیسۍ څېړنې لکنه په ګډه ليکلې وه چې د افغان کډوالۍ کړکېچ اړوند کيسو باندې نيوکې کړې وي. همدارنګه د بارين يو شمېر کالمونه او نورې ليکنې په نوموتو رسنيو لکه (Independatn, The Diplomat او Gandhara) کې خپرې شوې دي.

برين په مقايسوي سياست کې د لندن په اقتصادي او سياسي علومو ښوونځي کې (LSE) د ماسټرۍ تر کچې زده کړې دي. په دغه ښوونځي کې د هغې د څېړنې ټينګار په افغانستان کې د دولت جوړونې په هڅو کې د سيمه ايز واک سياست توپيرونو باندې وو. هغې خپلې د ليسانس زده کړې په نړيوالو مطالعاتو کې له ايموري پوهنتون څخه بشپړې کړې چې ډېر ټينګار يې په منځني ختيځ کې د شخړو په حل باندې و.

ايډيټران:

پاټريشيا کوپر

پاټريشيا شرکتد ښځو سيمه ايزه شبکه جوړه کړې، افغانستان، پاکستان او هند يې له ۲۰۱۰ کال راهيسې يواځينې د حقوقي شريکوان دي.

چيلسي سوډيرهولم

چيلسي د WRN د عملياتو عمومي مدير په توګه دنده ترسره کوي او په افغانستان، پاکستان او هند کې د شبکې ټول پروګرامونه کنټرولوي. له دې وړاندې، هغې له ميري روبنسن ادارې سره د سلاکارې په توګه دنده ترسره کوله. همدارنګه نوموړې د Realizing Rights، د ملګرو ملتونو د ښځو د ټولنيزو مشورو، سولې او امنيت په برخو کې دنده ترسره کړې ده.

۱. سریزه

د مېرمنو سیمه ایزه شبکه (WRN) په ۲۰۱۰ کې د افغانستان، پاکستان او هند د اوریدو د یو سفر پرمهال تاسیس شوې ده. په دې وخت کې، دا د مدني ټولنو رهبرانو ته څرګنده شوه چې د دې اړتیا شته چې په مستقیمه توګه د زیانمنو شوو مېرمنو غږونه د سیاسي تګلارو، د پالیسیو پرمختیا او پروګرامونو د تطبیق په اړه واوریدل شي. نن، له اتو کلونو وروسته، د دې مېرمنو د پیاوړې کولو او د هغوي د غږونو د اوریدو اړتیا په داسې حال کې زیاته شوې ده چې په سویلي اسیا کړکېچونه زیات شوې دي.

اوسمهال په سویلي اسیا کې شپږ کړکېچونه روان دي: په افغانستان کې چې له ۴۰ کلونو راهیسې په کې جګړه روانه ده، په پاکستان کې د بلوچستان، کشمیر شخړې او د شمالي وزیرستان جګړه، په هند کې د کشمیر، په شمال ختیځ کې د اوه جوړه ایالتونو ستونزه او د نکسلایټ ټولنیز تحریک. که څه هم جنګ د ټولو لپاره ویجاړوونکی وي، خو ښځې او نجونې له جګړو څخه ډېرې اغېزمنې کېږي. د ملګرو ملتونو د امنیت شورا په رسمي توګه د ۱۳۲۵ تحریک د منلو په وسیله دې موضوع ته خپل پام اړولی دی. *دا تحریک د شخړو او کړکېچونو په ټولو اړخونو غږ کوي چې ښځې او نجونې د جنسیت له مخې شته تاوتریخوالي څخه او په ځانګړې توګه د وسلوالو شخړو پرمهال د جنسي ځورونې له نورو بنو څخه هغوي وژغوري*[1].

د ۲۰۱۶ کال تر پای پورې، د داخلي بېځایه شوو وګړو شمېر په ټوله نړۍ کې ۴۰.۳ ملیون تنو ته ورسید کوم چې په ۲۰۱۷ او ۲۰۱۸ کلونو کې نور هم زیات شوی. د ۲۰۱۷ م کال تر نیمائي پورې، په افغانستان، پاکستان او هند کې د داخلي بېځایه شوو وګړو ټول شمېر له ۳ ملیونو څخه زیات و. په دې شمېر کې هغه داخلي بېځایه شوي هم شامل دي چې د طبعي پېښو له امله یې خپل ځایونه پرې ایښي وو. که څه هم د نړۍ زیات پام دی، د داخلي بېځایه شوو ته کمه پاملرنه کېږي کوم چې د غربت او بېځایه کېدو په ګرداب کې بند پاتې وي.

داخلي بېځایه شوي د کډوالو په پرتله ډېر لږ د نړۍ په پام کې راځي ځکه چې کډوال د هېواد له پولو څخه اوړي او په همدې اساس د نړۍ په کچه یوه موضوع بلل کېږي، داخلي بېځایه شوي په خپل هېواد کې له یوه ځای څخه بل ځای ته کډه کوي او په پرتلیزه توګه د یو هېواد داخلي موضوع بلل کېږي. په پایله کې، داخلي بېځایه شوو څخه سترګې پټېږي ځکه چې دوي زیاتره هېوادونه د داخلي بېځایه شوو لپاره د معیارونو او اصولو لارښوونو پلي کولو کې غفلت کوي چې له امله یې دوي ډېر لږ د پېژندنې وړ وي. د بېلګې په ډول، پاکستان او هند په رسمي توګه خپل داخلي کړکېچونه نه پېژني او په همدې اساس، د هغو په اړه د نړیوال بشري قانون له مخې خپل مکلفیتونه نه ترسره کوي د جګړو له امله کډه کوي.

هېڅوک نه شي ویلی چې کډوال یا داخلي بېځایه شوي لږ یا ډېرې پاملرنې ته اړتیا لري، خو دواړه اړتیا لري چې پام ورته وشي، ځکه چې دا دواړه په دوراني ډول د دې حالاتو ترمنځ په حرکت کې وي.

۱.۱ د افغانستان د ښځو سیمه ایزه شبکه (WRN) او ټولنیز بحثونه

د ښځو سیمه ایزه شبکه (WRN) په افغانستان کې له خپل تاسیس څخه راپه دې خوا په کابل، بلخ، بامیان، فاریاب، هرات، کندهار، ننګرهار او کندز ولایتونو کې په فعالیتونو بوخته ده.

د ښځو سیمه ایزې شبکې (WRN) موخه ده چې د سولې او امنیت، عدالت او حکومتولۍ په برخو کې د څېړنې د یو میتود چې ټولنیز بحثونه نومېږي، کار وکړي. دا یو تخنیک دی چې څېړونکې ته زمینه برابروي څو په ژوندۍ بنه له سیمه ایزو مېرمنو سره هر اړخیز بحثونه ولري چې د مختلفو شرایطو له مخې یې له خپلو ټولنو څخه نورو ځایونو ته کډه کړې وي. ټولنیز بحثونه د ښکېل شخص له نظره د موضوع په اړه رښتینی انځور د لومړي لاس معلوماتو په توګه وړاندې کوي. د ښځو سیمه ایزې شبکې (WRN) د څېړنې دغه رښتینولي د داخلي بېځایه شوو، کړکېچونو او امنیت په اړه د پراخو بحثونو لپاره د ارزښت لرونکو معلوماتو په توګه دی، په ځانګړې ډول، د ښځو سیمه ایز شبکه (WRN) هڅه کوي څو د مستقیمو او دقیقو پوښتنو په وسیله د ښځو غږونه پورته کړي.

1 د ملګرو ملتونو امنیت شورا، ښځې، سوله او امنیت (د امنیت شورا تحریک ۱۳۲۵)، ۲۰۰۰ کال د اکتوبر ۳۱

د ۲۰۱۷م کال تر نیمائي پورې، په افغانستان، پاکستان او هند کې د داخلي بېځایه شوو شمېر ۳ ملیون وګړو ته رسیده.

په تخار کې له کندز (دشت برچي کمپ) څخه بېځایه شوې مېرمنې.

د ښځو سیمه ایزې شبکې (WRN) *د افغانستان په کړکېچنو سیمو کې د ښځو په اړه دوه راپورونه مخکې هم خپاره کړې دي چې یو یې له جګړو ژغورل کېدل او لېږد (د افغانستان له اړخه) ۲۰۱۳-۲۰۱۴ او بل یې د افغانستان داخلي بېځایه شوې مېرمنې: پېچلې حقایق ۲۰۱۵-۲۰۱۶* څخه عبارت دي. د دې کال ټولنیز بحثونه د تېرو دوه کلونو د ټولنیزو بحثونو په اړه رامنځته شوې دي چې د تخار ولایت د داخلي بېځایه شوو په شاملولو سره پراخه شوې دي او همدارنګه په کړکېچنو کې د بېځایه شوو ښځو لپاره د ترسره شوو ترتیباتو په اړه پاملرنو ته کتنه کوي.

۲.۱ د څېړنې موخې:

دا څېړنه د داخلي بېځایه شوو مېرمنو د یوې برخې په اړه معلومات وړاندې کوي څو د دغه ډلې د ګډون په اړه په روانو حالاتو کې د نړیوالو زیاتې پاملرنې ترلاسه شي. دا یوه هڅه ده چې د داخلي بېځایه شوو مېرمنو لپاره یوه فرصت برابر شي چې د دوي اړتیاو ته د پاملرنو ترلاسه کولو په وسیله په پالیسیو او پروګرامونو کې برخه ولري. دا څېړنه هغه خنډونه مشخص کوي چې داخلي بېځایه شوې مېرمنې ورسره په ناامنه چاپېریال کې مخ کېږي او ناامنۍ، اداري فساد، نظامي فعالیتونو له امله هغوي خپل ځایونه پرېږدي. د دې څېړنې پایله او ورسره سپارښتنې به دغه شبکې لپاره اساس او باور چمتو کړي چې اساسي ګډونوالو ته ورسېږي څو هغوي خپلې پالیسۍ داسې شې کړي چې د داخلي بېځایه شوو ژوند ته ښه والی ور په برخه کړي، په ځانګړې ډول، د ښځو او د هغوي متکي کوچنیانو د ژوند شرایطو ته بدلون ورکړي.

۳.۱ د څېړنې ساحه او میتود

لومړنۍ څېړنه په جنوري ۲۰۱۸ کې په دوه اونیو کې ترسره شوې وه. په دې کې کابل، تخار او کندز ولایتونو ته سفرونه شامل وو چې هلته پنځه د ډله ایزو فکس ګروپونو بحثونه په حسین خیل، خاص کپه، بهارک، دشت قلعه سیمو او تالقان کرایي اپارتمانونو کې ترسره شول. لاندې نقشه د دې څېړنې سیمه په ډاګه کوي.

شاوخوا ۱۵۰ ښځو او نجونو سره مرکې وشوې چې عمرونه یې له



Figure 1[4]

۷۰-۱۶ کلونو پورې وو. زیاترو یې زده کړې نه وې کړې او د کرنیزو کورنیو څخه وې. نړدې د ټولو مېرمنو عمرونه ۱۸ او له هغې پورته وو او واده شوې یا کونډې وې او لږ تر لږه یې درې ماشومان لرل. ډېر کم شمېر مېرمنې مخکې له بېځایه کیدو څخه په رسمي دندو بوختې وې او زیاتره یې د کورنیو او کروندو په پاملرنه مصروفې وې. د ځواب ورکوونکو زیاته برخه یې ازبکان وو خو یو شمېر پښتانه او تاجکان هم په کې شامل وو. د مرکو ګډون کوونکې د نژادي ګروپ له مخې د شمالي اوسیدونکې دي چې د دې څېړنې لپاره ټاکل شوي دي. د مرکو لپاره په دري ژبه خبرې شوې دي.

یو شمېر مرکې له دولتي چارواکو، د سیمه ایزو او نړیوالو غیر دولتي موسسو له استازو او سیمه ایزو مدني فعالینو سره ترسره شوې دي څو په افغانستان کې د داخلي بېځایه شوو د ژوند په اړه یو رښتینی انځور واخېستل شي. همدارنګه په دې راپور کې د داخلي بېځایه شوو په اړه له وړاندې موجود لیکنو لکه پالیسیو، مقالو او د دولتي او غیر دولتي ادارو له راپورونو څخه ګټه اخېستل شوې ده.

د ټولنیزو بحثونو پایلو د دې څېړنې لوری ټاکلی دی. د مرکې پوښتنې د ښځو د سیمه ایزې شبکې (WRN) د څېړنې د میتودولوژۍ د سند د ښځو د فعالینو په اړه د جنډر د پوښتنلیک پر بنسټ جوړې شوې وې کوم چې څېړونکې ته اخلاقي لارښوونې چمتو کوي. د نورو موضوعاتو سربېره، له ځواب ورکوونکو څخه د اداري فساد، مرستو نظامي کول او پرمختیا، په داسې حال کې چې په لومړیو کې داسې فکر کېده چې دا جوړښتونه به په ځرګند ډول په دې څېړنه کې ښکاره شي، همدارنګه، په پای کې دا موضوع له مرکه کیدونکو سره نه ده شریکه شوې. د بېلګې په ډول، د مرستو نظامي کېدل او پرمختیا، خوړو ترلاسه کولو لپاره د ښځو ورځنۍ هڅې او نورې سرچینې ویل کېدل چې ډېرې پېچلې وې او په ځانګړې ډول هغه چې د مرستو د سرچینو په اړه یې تړاو درلود، په دې څېړنه کې شامل نه وو. د دوې د پام وړ موضوعات د خپل ځان خپلو ماشومانو لپاره د هغوي ژوندي پاتې کېدل او د هغوي د بنسټیزو اړتیاو د پوره کولو لپاره هغوي ته د توکو او مرستو برابرول وو.

۴.۱ خنډونه او محدودیتونه

د دې څېړنې تر ټولو لوی خنډ دا و چې دا باید په فزیکي توګه د افغانستان په لیرې پرتو سیمو کې ترسره شي. په یوه ناامنه سیمه کې د څېړنې ترسره کولو محدودیت څخه سترګې نه شي پټیدی، په ځانګړې ډول چې څېړنه باید ډېره دقیقه او د مېرمنو لخوا ترسره شي. هر وخت د دې وېره وه چې ناوړه چاپېریال په کوم ځای کې، کله، څنګه رامنځته شي په ځانګړې ډول کله چې څېړونکو خپل ساحوي کار ترسره کولو. په دې صورت کې، د ۲۰۱۸م کال د جنورۍ په ۲۰ نېټه په انټرکانټینټل هوټل برید په مستقیمه توګه د دې څېړنې لوژیستیکي چارې ټکنۍ کړي چې له املې یې د څېړنې ټاکل شوو سیمو ته لاسرسی وځنډول شو. کام ائیر چې د افغانستان ۹۰ سلنه سیمه ایز پروازونه[2] ترسره کوي، په هوټل کې د بریدلې املې د ډېرو پیلوټانو او کارکوونکو د وژل کېدو له املې یې خپل فعالیتونه وځنډول. دې د ټګ راتګ په مهالوېش او ورپسې د ساحوي کار په په مهالوېش باندې مسقتیمه اغېزه درلوده.

په لیرې پرتو سیمو کې چې د څېړنې لپاره ټاکل شوې وې، د کارکوونکو امنیت ساتنه هم یوه لویه ننګونه وه او بله دا چې دا سیمې په بشپړ ډول د حکومت په کنټرول کې نه وې. په عمومي ډول، په افغانستان کې ټګ راتګ ستونزمن دی او په لیرې پرتو سیمو کې خو دا ستونزه نوره هم زیاته ده. فزیکي لوړې ژورې او محدود زیربنائي جوړښت د پام وړ ستونزې وې، دغه ستونزې به د هېواد د سخت ژمي په فصل کې نورې هم کړکېچنې شوې. یوه بله ستونزه د لوژیستیکي پېچلتیا څخه عبارت ده چې مېرمنې یواځې د ورځې په رڼا کې کولی شي خوندي سفر وکړي او په ځانګړې ډول باید له ۴ بجو څخه مخکې خپل ټګ راتګ پای ته ورسوي.

د افغانستان د لوژیستیکي ستونزه یو لږ پېژندل شوی حقیقت ښایي خپل منځي لاسرسی وي کوم چې د هېواد د نارینه سلارې ټولنه کې د پرمختیا لپاره اړین وي. د کمزورۍ یا ناسوب حکومتي جوړښتونو، کورنۍ او نورې ټولنیزې شبکې د فعالیتونو د ترسره کولو لپاره تر ټولو اغېز لرونکي لارې دي. د هېواد په ډېره لیرې پرته سیمه کې، دا فعالیت ډېرې بنسټیز دی، په دې اساس، دا یواځې د ښځو سیمه ایزې شبکې په وسیله اغېزناک و چې د دې پروژې لپاره یط د معلوماتو راټولول ممکن کړل.

یو شمېر عادي موضوعات د مرکه کیدونکو لخوا څرګند شول چې ډېر څرګند یې په دې څېړنه کې وړاندې شوې دي. د یادونې وړ ده چې دې څېړنې ته باید هر ډول موضوع لپاره د اړوند توکې په توګه ونه کتل شي کوم چې د معلوماتو د راټولو پرمهال ترسره شوې دي همدارنګه دا څېړنه داسې نه ده چې ټول یو شانوالي او توپیرونه د مرکه کېدونکې نفوس څخه مشخص کړي. دا د موجوده حالاتو یوه نمونه اي څېړنه او په مستقیمه توګه د ښځو د غږونو یوه ارزښت لرونکی مستند دی او د سلا مشورې وسیله ده. یو وروستی خبرداری دا دی چې هڅه شوې ده چې هر شی د نژاد اړوند پاتې شي، او نېغ په نېغه د سیمه مېرمنو د رښتینو نظریاتو استازی و اوسي، دا ډېره مهمه ده چې په یاد ولرئ چې کیفي څېړنه ښایي د هغې د ډول له مخې موضوع سره تړاو ولري. دا تحلیل او پایله د دې خبرو په ذهن کې ساتلو سره و ارزول شي.

2 Mujib Mashal and Fahim Abed, 'Grounded and Gutted, Main Afghan Airline Struggles After Taliban Attack'

۲. په افغانستان کې بې ځایه کېدنې (نقل مکان)

د ۲۰۱۷م کال دسمبر میاشتې پورې ، په افغانستان کې د بې ځایه شویو وګړو شمیر 1.2 ملیون ته رسیدلی. پداسې حال کې چې دا د هغه هیواد لپاره چې د 34 ملیون نفوس نفوس لري، یو لوی شمیر دی، شاید دا چاره ناڅاپي نه وي، ځکه چې په افغانستان کې شاوخوا دځلورو لسیزو لپاره تل پاتې شخړې په حالت کې قرار لري. افغانستان د داخلي بې ځایه کېدو لومړنی تجربه د شوروي یرغل پر مهال (۱۹۷۰لسیزې په وروستیو کې) تر سره کړه. دویمه تجربه یې په ۱۹۹۲م کال کې د افغان کورنۍ جګړې په بهیر کې، چې د افغانستان د اسلامي امارت د تاسیس سره په ۱۹۹۶م کې او په داخلي بې ځایه کېدنې کې په ۲۰۰۱م کې د متحده ایالاتو د مداخلې پر مهال زیاتوالی راغی. د دې څلویښتو کلونو راهیسې، افغانان په ستره کچه زیانمن شوي او ځوریدلي دي ځکه چې د هیواد مختلفې سیمې جنګ ځپلي او د ناامني، سیاسي بحران، محدوده اقتصادي پراختیا، او غربت نښې په کې له ورایه معلومیږي. د دې دورې په اوږدو کې، پورته ذکر شوي لاملونه د داخلي بې ځایه کېدنې او د کډوالو لپاره د کډوالي سبب ګرځېدلي دي. د دې مصنوعي ننګونو برسیره، افغانستان د غرونو ښویدنې، وچکالۍ او زلزلې په شمول د غرني توپوګرافي په توګه د ډیرې طبیعي پیښو سره مخامخ دی. دا فکټورونه د لا زیاتې بې ځایه کیدنې سبب شوي.

۱.۲ ګاونډی هېوادونه

په تاریخي ډول، پاکستان او ایران د جګړې په وخت کې د افغانانو لپاره خوندي کورونه دي. په وروستیو کلونو کې، د احساساتو د بدلېدو له امله، دا دوه هېوادونه نور د احتیار وړ ندي. دواړه هیوادونه د کوربه هیواد په توګه، د لسیزو په اوږدو کې په میلیونونه افغان کډوالو کې پنا اخیستې. د پاکستان او افغانستان تر مینځ د سیاسي تاو تریخوالي له امله، په سیمه کې د افغان مهاجرینو لپاره خطرونه لکه د ځورونې، استخراج، ناوړه ګټه اخیستنې، او جبري راستنیدو اوس معمول او لا خطرناک کړی،. لکه څرنګه چې د مهاجرت چاره کمه شوې، دا د افغانستان په دننه کې د داخلي بې ځایه شوو وګړو په شمیر پورې اړه لري.

د ۲۰۱۷م کال په پای کې، له ۶۱۰،۰۰۰ څخه زیات افغانان په زور سره د پاکستان او ایران څخه بیرته راستانه شوي یا راشړل شوي دي، چې تیر کال دغه شمېره یو میلیون ته رسېده. پدې شمیر کې هغه افغانان شامل دي چې په پاکستان یا ایران کې زیږیدلي دي او افغانستان خپل کور نه حسابوي. مګر دوی د ناامني او نورو لاملونو له کبله بیرته ستنیږي او دا د ضرر رسولو نور جوړښتونه زیږوي. دغه راستنیدونکي په هغه هیواد فشار راوړي چې دمخه یې د داخلي بې ځایه شوو کورنیو د لوړې کچې سره مبارزه کوله. ډیرې راستنیدونکي نشي کولی بیرته خپل اصلي ځای ته ولیږدول شي - ډیرې یې د شخړو له کبله، او ډیرې یې د زیربناوو د نشتوالی، اساسي خدماتو او د سولې یا بیا یوځای کېدو له ننګونو له کبله د د داخلي بې ځایه کېدو له حالت سره مخامخ شي. د داخلي بې ځایه شوو وګړو اوسنۍ ارقامو سره بې ځایه شوي راستنېدونکي ارقام ندي جمع شوي او دا په سیستم کې ندي جمع شوي او ځکه یې مجموعي پایله له ناسمو پایلو سره مخ ده.

۲.۲ کندز او تخار

د ۲۰۱۴م کال په پای کې د بهرنیو ځواکونو له وتلو راهیسې د افغانستان په شمال کې په زیاتیدونکي ناامنه کیدو کې د پام وړ بدلون راغلی. د کندز شمالي ولایت په تیرو څو کلونو کې د طالبانو او افغان امنیتي ځواکونو ترمینځ د سختو نښتو او جنګونو سیمه ده. د کندز مرکز، دوه ځلې د طالبانو لاس کې ولوېد: لومړی په ۲۰۱۵م کې د لنډ مهال لپاره او دوهم ځل په ۲۰۱۶م کې. د ۲۰۱۵زېږدیز کال جنوري میاشت راهیسې ۳۵۰،۰۰۰څخه زیاتې افغان کورنۍ د خپلو استوګنځایونو څخه چې د کندز ښار کې اوسېدلې بې ځایه شوې چې زیاته برخه یې کندز او لږه زیاته برخه یې ګاونډي ولایت تخار ته کډه شوې. د دې شمیرو څخه ۲۱٪ سلنه څخه زیاتې بالغې ښځې دي. کندز او تخار د افغانستان د ۱۵ ولایتونه له جملې څخه د داخلي بیځایه شوو خلکو او راستنیدونکو لوړ شمیر کوربه توب ګټل کیږي.

د ۲۰۱۷ م کال تـر پـای پـورې، ٦١٠٠٠٠ تنـه افغانـان پـه زوره لـه پاکسـتان او ایـران څخـه شـړل شـوي دي. د دې ترڅنـګ ۱ ملیـون نـور افغانـان هـم تېـر کال افغانسـتان تـه بېرتـه سـتانه شـوي دي.

کونډې میرمنې چې د کندز په شخړه کې یې خپل میړونه له لاسه ورکړې دي او اوس په تخار ولایت کې له خپلو کورونو بېځایه دي

۳. د افغانستان داخلي بې ځايه شويو پاليسۍ

۱.۳ د داخلي بې ځايه شويو ملي پاليسي پلي کول

د داخلي بې ځايه شويو ملي پاليسي د۲۰۱۴م کال په فبروری کې د افغانستان حکومت لخوا پيل شوه. افغانستان د WRN يوازينی هيواد دی چې اوس مهال د داخلي بې ځايه شويو اړتياوو ته د ځواب ويلو لپاره ځانګړې پاليسي يا قانوني چوکاټ لري. دغه پاليسي يو بشپړ سند دی، چې د داخلي بې ځايه شويو وګړو حقونه د ځانګړې ژبې سره د سځو اړتياوو ته د حل کولو اصول بيانوي. دغه پاليسي حتی يو ګام مخکې ځي او د ميرمنو د ژوند په اړه تصميم نيولو د سځې ونډې او تصاميم روښانه کوي. سربيره پر دې، د بېلا بېلودولتي او نادولتي ادارو، موسسو او نورو بشرپالونکو ادارو رول او مسوليتونه بيانوي. د دې پاليسۍ جوړښت يوه مهمه مرحله وه، او شتون يې د بريالیتوب په توګه د ستاينې وړ ده. په هرصورت، د دې پاليسۍ د پيل راهيسې څلور کلونه تيريږي، او حکومت د دې پاليسۍ د بريالي پلي کولو لپاره لا هم بايد مهم او اړين ګامونه پورته کړي.

د پاليسۍ د تطبيق لپاره ترټولو لوی خنډ د ملي يووالي حکومت له لوري د يو قوي تعهد نشتون دي چې د دې پاليسي غوښتنو ته وده ورکړي او پر مخ يې بوځي. په پايله کې، د ملي، ولايتي او سيمه ايزې کچې حکومتدارۍ کې د اوليتونو او احتساب بو بل سره قطع کړي. د دې منحل شوي اصلي مثال په سيمه ايزې کچې کې د پاليسۍ په اړه د پوهاوی نشتوالی دی. د سرپناه د ژوند يوه چارواکي وويل:

«د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت بايد هر سازمان ته دغه پاليسي ورکړي او ورته ووايي چې دوی بايد د دې پاليسۍ طرزالعمل تعقيب کړي. دوی تراوسه دا کار نه دی کړی. د بيلګې په توګه، کله چې يو داخلي بې ځايه شوی راځي، مور بايد د يو پلان له مخې پرېکړه وکړو چې هغه چيرته ځای په ځای کړو. هر سازمان بايد خپله ارزونه وکړي او پرېکړه وکړي چې د داخلي بې ځايه شوو خلکو سره څه وکړي. هره اداره د داخلي بې ځايه شويو خلکو سره د مرستې لپاره خپل خپل طرزالعملونه لري.»

دا نېه خبره نده چې معلومه کړي چې، د دې پاليسي بريالیتوب لپاره، بايد په اغيزمنه توګه په ټولو سطحو کې د زيدخلو سره په اغيزمنه توګه خبری اتری وشي. د دې چارې ناکامي د حيرانتيا خبره نده، په هرصورت، لکه څنګه چې دا د افغانستان نسبتا ضعيفې اداري وړتياو نېه ده – بلکه د پرمختګ حال کې د هېواد عمومي نېه ده.

د پاليسۍ د پلي کولو لپاره د يو متحد طرزالعمل نشتوالی د دې لامل شوی، چې داسې يو چاپېريال رامنځته کړي چې د داخلي بې ځايه شويو مسلو په اړه د ادارو فعاليت د رښتينې پاليسي په پرتله نور د شخصيتونو لخوا پرمخ لاړ شي. په بل عبارت، که چيرې يو ځانګړی دولتي چارواکي د داخلي بې ځايه شويو پاليسي کې او يا د داخلي بې ځايه شويو موضوع کې په عمومي ډول ليوالتيا ولري، دوی به دغه موضوع يا اجنډا د دوی په رياست پورې اړوند بولي. خبره خو تر يوه حده رښتيا هم ده، ځکه له يوې خوا د ډيرې لوالتيا نه شتون او له بلې خوا د داخلي بې ځايه شويو اجنډا په اغيزناکه توګه په سيمه ايزه کچو کې خپريږي. ايليس کينيډي،په افغانستان کې د ACTED موسسې بيرني همغږی چې يو نړيوال غير دولتي سازمان ده، په لاندې ډول وايي:

«[د هغې ډيره برخه] د شخصي اړيکو پورې اړوند ده. دويمه برخه چې له مينځه وړل کيږي، يو څه اغيز لري. ځينې وختونه دغه کار مثبت تأثيرات لري، ځکه مور ممکن داسې يو کس ترلاسه کړو چې په دې برخه کې ډير ليوالە وي، او ځينې وختونه نبايي هېڅ ډول هڅونې شتون و نلري. دا يوه ډېره مبهمه ارزونه ده او حقيقت دا دی چې دا په شخصيت ډېره تکيه کوي - او بايد داسې نه وي، ځکه چې هلته ستراتيژی شتون لري او له کابل څخه يو سيستم شتون لري، مګر دا په دې مسله کې يوه تصادفي پېښه ده او د خلکو په لاره کې يو ډول خنډونه دي.“

د داخلي بې ځايه شويو وګړو عمومي رياست رئيس او د کډوالو او راستنيدونکو چارو وزارت بيړني حالت عمومي رئيس مهرخدا صابر هم ورته ډول احساس څرګندوي او وايي:

«اجازه راکړئ چې تاسو ته د دې پاليسي د پلي کولو د ستونزې په اړه يو مثال درکړم: دغې پاليسي ته د ننګرهار پخوانۍ والۍ، ګل آغا شيرزي معرفي شو ، مګر ډېر ژر يې ترک کړه. د شپږو مياشتو لپاره نوی والي [شمس الحق سراج] وټاکل شو، او مور هغه ته دا پاليسي شرحه کړه، مګر هغه ډېر ژر تبديل شو او بل څوک يې پرځای راغی. مور نوي والي ته لاړو او پاليسي مو ورته تشريح کړه، مګر هغه هم تبديل شو او پر ځای يې بل څوک راغئ. »

د پالیسۍ د تطبیق اړوند د یوې واحدې تګلارې د نه شتون له امله داسې یو چاپیریال رامنځته شوی دی چېرې چې د داخلي ښځایه شوو اړوند فعالیت کوونکو ادارو فعالیتونه د تګلارې پر ځای په اشخاصو باندې ډېر ټینګار کوي.

کونډې مېرمنې چې د کندز په شخړه کې یې خپل مېړونه له لاسه ورکړې دي او اوس په تخار ولایت کې له خپلو کورونو ښځایه دي

د بهارک کمپ لیري پرتې سیمې

دوامداره بدلون او ادلو ن د پالیسۍ د بریالي تطبیق لپاره لوی خنډ دی. ښایي پرسونل تل د بدلون او تغیر په حال کې وي - ممکن په افغانستان کې حتی د بې ثباتۍ تمه وشي- مګر د کنټرول سیسټم د مبارزې لپاره کافي قدرت ته اړتیا لري ترڅو کافی قوي وي. دا بیا د بلې ستونزې لامل کیږي،چې د بېلابېلو دولتي ادارو لخوا د داخلي بې ځایه شویو په موضوع کې د حساب ورکونې نشتوالی دی. د پالیسۍ پلي کولو او اداره کولو لپاره د بې ځایه شویو او بیرته راستنېدونکو اجرائیوي کمېټه (DIREC) رامینځته شوه، مګر د پام وړ پایلې لا تر اوسه ندي لیدل شوي.

پداسې حال کې چې د مرکې څخه داسې څرګنده شوه، چې د دې پالیسي د بریالیتوب لپاره یوه اراده شتون لري، دا د بنسټونو پرځای په شخصیتونو کې نغښتی ده. تر هغه پورې چې قضیه په دې ډول وي، د غوره قضیې سناریو به د ګډې پایلې پر بنسټ وي، او د پایلې په توګه به د داخلي بیځایه شوي کسان به په ناڅاپي ډول د ټوټه شوي سیستم له لارې له منځه یوسي.

۲.۳ بیړني بې ځایه شوي خلک د خوندي شویو یا ژغورل شویو بې ځایه شویو خلکو په وړاندې

د داخلي بې ځایه شویو خلکو پالیسي، داخلي بې ځایه شوي وګړي په لاندې ډول تعریفوي:

«هغه کسان یا ډلې چې د زور یا مجبوریت له املې دخپلو استوګنځایو خوشې کولو لپاره مجبور شوي دي یا د خپلو کورونو او یا د استوګنې ځای پریږدي په ځانګړې توګه د وسله والو شخړو د اغیزو څخه د مخنیوي، د عمومي تاوتریخوالي حالت، د انساني حقوقو څخه د سرغړونې په صورت کې، او یا د انساني یا طبعي پېښو له املې د نړیوالو پیژندلو شویو دولتي پولو څخه اوښتي نه وي، د داخلي بېځایه شویو په نوم یادیږي.»

پداسې حال کې چې دا د کاغذ پر مخ باندې یو کاري تعریف دی، مګر د ریښتینې نړۍ پر مخ یې تطبیق د پیچلیتوب سره مخ دی. په ځانګړې توګه ستونزمنه مساله د دې دورې د پوښتنې په اړه ده، د بېلګې په ډول کله چې یو داخلي بې ځایه شوي نور داخلي بې ځایه شوي نه ګڼل کیږي. د افغانستان د داخلي بې ځایه شویو ملي

پالیسي د داخلي بې ځایه شویو مودې د موضوع په اړه وایي چې یو داخلي بې ځایه شوی شخص باید د بې ځایه کېدو د لامل او مودې پرته باید د داخلي بې ځایه شوي کس په توګه وپیژندل شي.

په هرصورت، دا چې د داخلي بې ځایه شویو لپاره کوم ځانګړی او متحد حد یا چوکاټ ندی ټاکل شوي چې له مخې یې باید تر کوم وخته داخلي بې ځایه شوی کس نور بې ځایه شوی ونه ګڼل شیځکه نو د همدې موخو لپاره ټولو زیربطو او اړونده ادارو (دولتي چارواکي، غیر دولتي موسسې، نړیوالې غیردولتي مؤسسې او ځایی فعالین) خپل بیلابیل تفسیرونه او وختونه ټاکلي. دا واقعا د هغو سازمانونو قضیه وه چې د دې څېړنې لپاره ورسره مرکه شوې وه، او په دغو مختلفو فعالیتونو کې یې توپیر روښانه دی. دا چاره نه یوازې چې د همغږي کار ستونزمن کوي، بلکه احصایوي توپیرونه هم رامینځته کوي چې د پالیسي جوړونې او پروګرام کولو باندې ستر اغیز پریباسی. دا چاره تر ټولو زیات اثر او اغیز په هغو داخلي بې ځایه شویو پربباسي چې د مرستو په مقدار کې کموالی رامنځته شي او یا له وخته مخکې په بشپړ ډول مرستې قطع شي. دا یوه ویجاړونکي او ځان وژونکي پایله ده، ځکه چې دا چاره د بې ځایه کېدنې پروسه د زیاتې مودې لپاره اوږدوي.

۳.۳ موده او زغم

د د داخلي بې ځایه شویو د مودې مسله د بیړنیو او اوږدمهاله داخلي بې ځایه شویو کسانو مسئلې تر مینځ یو دوه حالته حالت رامنځته کړی. لکه څرنګه چې د داخلي بېځایه شویو د مودې په اړه بېلابېلې اداري خپلې انګېرنې لري، دا داسې یو تردید رامنځته کوي چې هغو داخلي بې ځایه شویو وګړو ته چې د زیاتې مودې لپاره د سکون او آرامې حالت پاتې شوي، زیان رسوي. د دې څېړنې لپاره د مرکو پر بنسټ، ونډه اخیستونکي ډلې او کورنۍ ټولنې د اوږدې مودې داخلي بې ځایه شویو کسانو سره د بیړنیو داخلي بې ځایه شویو وګړو مقایسه په پام کې نیولو سره متفاوت نظر درلود. په عمومي توګه، د نویو داخلي بې ځایه شویو په اړه د بحث په وخت کې د درناوی لوړه کچه لوړه وه. د مثال په توګه، په تالقانو کې د کورنۍ ټولنې یوه ښځې، د نوي بې ځایه شویو خلکو په اړه چې د کندز دویم ځل (۲۰۱۶م کال کې) څخه یوه نوې کورنۍ د دوی سیمې ته راکوچېدلې وه، د دوی په اړه یې د همدردۍ او دلسوزي څخه ډکې خبرې وکړې:

«د پنځوسو په تعداد خلک زموږ کوچنۍ سیمې ته راغلل، مګر زما خاوند ویل چې خیر ده را دشي او هغوی سره یې خپلې مرستې ته دوام ورکړ. کوچنیو هلکانو به ژړل او ویل به یې (عمه مورِ تږي یو، یو چایجوش چای خو راکړئ) او ما به ورته ویل (سمه ده، راشئ) او ما به چای ورکړ. د ټولو جامو په ورکولو سره مې په اخر کې بیخې کالي پاتې نه شول او ما به ویل خیر ده هغوی ورته ضرورت لري. هغوی کمپلو ته اړتیا درلوده او موږ ورکړې. هر څه مو چې درلودل، خاوند مې ویل ور یې کړئ. الله تعالی دا ورځ په دوی راوستلې، باید موږ ورسره مرسته وکړو.»

په یو بل کمپ کې چې د بهارک په نامه یادیږي او د تالقانو د ښار څخه نږدې ۲۰ کیلومتره شمال خواته پروت دی، کله چې کندز په ۲۰۱۵م کې کندز د لومړي ځل لپاره د طالبانو لاس ته ولوېد،دوه کاله کیږي چې داخلي بې ځایه شوي خلک په کې په پریشاني کې ژوند کوي. دا کمپ په ویجاړه او خاورینه سیمه کې چې یو اړخ ته یې غر پروت دی، موقیعت لري. په دې کمپ کې د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمیشنرۍ له لوري ورکړل شوو خېمو څخه علاوه نور هېڅ هم نه لیدل کیږي. یوې ښځې د کمپ وضیعت او حالت داسې بیان کړ:

«دلته د څښاک اوبه نشته او موږ هېڅ ډول اوبو ته لاسرسی نه لرو.»

«موږ اوس په داسې یو حالت کې ژوند کوو، چې د سوال کولو څخه پرته بله هېڅ لاره نه لرو. موږ دکانونو ته د د خوراکې لپاره د سوال کولو لپاره ځو، تر څو ماشومان مو له لوږې مړه نشي.»

وضعیت دلته بیخي بې خونده وو. تر ټولو ستره اندېښنه د څښاک اوبو او خوړو ته د لاسرسي نشتوالی دی. په حقیقت کې، ددې کمپ د خلکو اړتیاوې د هغو کسانو سره یو شانته وې چې هغې ښځې یې په همدردۍ او زړه ښواندی پورته بیان وکړ. نو له همدې امله پوښتنه کیږي چې ولې د دوړو کمپونو د خلکو چال چلند باید توپیر ولري. دا بېلابېلو ښکیلو اړخونو سره د مرکې د پروسې په ترڅ کې چې د حکومتي چارواکو او کورنۍ ټولنې اوسیدونکو په کې شامل وو، څرګنده شوه چې د اوږدې مودې داخلي بېځایه شویو خلکو په اړه منفي مفکوره شتون لري. د بهارک کمپ د نورو پخوانیو بېځایه شویو اوسېدونکو څخه توپیر دا دی چې داخلي بې ځایه شوي خلک په دوه کلونو کې په یو هېر شوي حالت کې ژوند کوي، په داسې حال کې چې نور غیر رسمي استوګن تیت او پرک شوي دي او ډیری پخواني اوسیدونکي بیرته خپلو سیمو او کورونو ته ستانه شوي .

د بهارک سیمه ایزو بې ځایه شویو خلکو په اړه د سیمه ایزو خلکو او اړونده ګډونوالو مفکوره دا وه چې د دوی اوږدمهاله اوسېدنه د دوی تنبلي او د مرستندویه ادارو څخه د ګټې اخیستنې لپاره د فرصت او د آرامې یو څو اړخیزه پایله وه. د کورنۍ ټولنې یو ځواب ورکوونکي داسې وویل:

«هغه کسان چې په دې کمپ کې اوسیږي ټول یې کورونه لري. او کله چې د مرستندویه مؤسسې څخه یو څوک مرستې کولو لپاره کمپ ته راځي، نو دوی بو بل ډېر ژر خبروي او په بیړه ځان کمپ ته رسوي او دوی داسې ځان ښیي چې دوی د مرستې اخستلو لپاره ډېر بې وزلي و بې وسه دي.»

داخلي بې ځایه شوي خلک د دې منفي مفکورې څخه ډېر ښه خبر دي. د بهارک کمپ یوې اوسېدونکې میرمنې وویل چې خلکو په دې تور لګولی چې هغې «کور» جوړ کړی دی، نو ځکه [باید] په خیمه کې د اوسېدو پر ځای باید کورته لاړه شي. داخلي بې

د خاص کډه ټولنیزو بحثونو کې شاملې نجونې

ځایه شویو کسانو دا هم وویل چې دوی ته ویل کیږي چې *«باید اوچت شي او بیرته خپلو کورونو او [ځمکې] ته لاړ شي».*

د خوندي بې ځایه کیدو په وړاندې دا تاوان لږترلږه هغه حقیقت ته راجع کیږي، چې داخلي بې ځایه شوي خلک په کوربه ټولنې کې د یو بوج او بار په توګه ګڼل کیږي. په هغه هیواد کې چې لږترلږه ۱۱.۱ میلیون د خوړو له اړتیاوو سره مخ وي ، بهرنۍ مرستې ډیرې کمې شوي وي، او بیکارۍ د تل پاتې بحران په حالت کې د ودې په حال کې وي، دا د حیرانتیا خبره نده چې سیمه ایز نفوس یې د شک په حالت کې ساتل شوي او د سرچینو د تخصیص په اړه اندیښنه لري. ډیرې کوربه وګړي په اقتصادي توګه زیانمنونکي دي، او هلته چې داخلي بې ځایه شوي خلک د مرستو لاسته راوړلو لپاره ځي، یو طبیعي تاوان رامینځ ته کوي.

په هرصورت، بې ځایه شوي خلک، البته دا ټولې ستونزې په خورا ستره کچه تجربه کوي. داخلي بې ځایه شوي وګړي په یو ځانګړي بې وزلي دوران کې ساتل کیږي چې کیدای شي د ځو ځلي بې ځایه توب په وسیله له منځه لاړه شي. د ټولنې په ټولو پنځو خبرو اترو کې، نږدې ټولې ښځې لږترلږه دوه ځله بې ځایه شوي، او ډیرې یې د دریو یا ډیرو بې ځایه توب راپور ورکړ. ۴۷ کلنې بي بي ګل، چې په کابل کې د حسین خېلو کلي غیر رسمي اوسېدونکې ده داسې څرګنده کړه، چې هغه د لوګر څخه ده او د لوګر او کابل تر منځ درې ځله بې ځایه شوی دی.

د اوږدمهاله داخلي بې ځایه شوو وګړو د اړتیاوو ارزونه –چې د Afghanistan by REACH لخوا ترسره شوې، پر بنسټ، هغه کورنۍ چې څو ځلې بې ځایه شوي، ډیر وختونه د خوراکي توکو د قلت سره مخ شوي دي. د دې مهمې موضوع ترڅنګ، ډیرې هغه کورنۍ چې ډیر ځله بې ځایه شوي، د نورو ستونزو تر څنګ، د بې ځایه کېدو د لوړ قیمت او نرخ سره سره د ښوونځي عمر لرونکو ماشومانو په ښوونځي کم رنګه ګډون هم شامل دي. ځیرنې دا هم موندلې چې د کورنۍ سرپرستې ښځې د زیات زیان منونکي وړونکي دي، دا ځکه چې د دوی اقتصادي حالت خراب دی. د نمونې په ډوله یوازې ۱۳٪ سلنه کورنیو د منلو وړ کچې د خوړو سرچینو ته لاسرسی درلود.

په مجموع کې، دا څرګنده ده چې اوږدمهاله داخلي بې ځایه شوي خلک په لوړ خطر کې دي، په ځانګړې توګه هغه کورنۍ چې د کور سرپرستي یې د ښځو په غاړه ده. دا ډله کورنۍ د تلپاتې حالتونو

د بحران په حالت کې زیان منونکي دي چې د ضعیف اقتصاد او د کار مارکیټ اضافي فشارونو په پام کې نیولو سره، په ځانګړې ډول په افغانستان کې له مینځه وړل یې ستونزمن دي. د اوږدمهاله داخلي بېځایه شوو وګړو په اړه منفي انګیرنې او د مرستې لپاره د دوی د وړتیا د ټاکلو لپاره د واضحو او دوامداره معیارونو نشتوالی نورې اندیښنې دي، ځکه چې دا عوامل د داخلي بې ځایه شوي وګړو لپاره د مرستو د پروګرامونو د کمولو اغیز لري، چې په همدې مودې کې یې زیان منونکي دي. په پایله کې، اوږدمهاله داخلي بې ځایه شوي خلک اکثرا په خپلو سیمو کې د بیامیشتدنې پر مهال له ستونزو سره لاس او ګریوان وي، تر څو په ټولنه کې خپل ځان بیرته اصلي حالت ته راولي او په دوامداره ډول بې ځایه شویو خلکو په توګه پاتې شي ځکه چې اوس مهال هیڅ ډول اوږد مهاله حل شتون نلري.

٤.٣ دوامداره حل لارې: خوندي بې ځایه کېدنې

د دې څېړنې په جریان کې، د پام وړ یوه لویه ستونزه د اوږدمهاله داخلي بې ځایه شویو کسانو لپاره د پایښت د دوامداره حل لارو نشتوالی دی. حل الرې نشتوالی. داسې عمومي انګیرنه شتون لري، چې هغه اوږد مهاله بې ځایه شوي وکړي چې د څو کلونو لپاره بې ځایه شوي پاتې شوي، د نوي بې ځایه شویو خلکو په نسبت غوره ژوند لري، دا ځکه چې دوی مرستې ته لاسرسی لري او له همدې امله په چټکی سره په نویو ټولنو کې ژوند په اسانی سره بیا رغولی شي. په واقعیت کې، اوږدمهاله داخلي بې ځایه شوي خلک اکثرا د نویو بې ځایه شویو خلکو په څېر د خوړو د قلت سره مخ کیږي او دواړه په مساوي ډول ناکافي کورونه او استوګنځایونه لري. په مکرر ډول څېړنې دا خبره رښتیا ثابته کړې.

د دې موضوع یوه برخه په هغه واقعیت څرګې، چې داخلي بې ځایه شوي خلک په خوندي حالتونو کې د بشرپالونکو ادارو لخوا د اوږدمهاله پرمختیایي مسلې په توګه ورته کتل کیږي، چې په ځای یې د لنډ مهاله اسودګي لپاره ځارنه کوي. دا د دې لپاره، چې نوي بېځایه شویخلک، که ذ دوی په اړه معلومات نه وي راټول شوي، د بې ځایه شویو لومړیو شپږو میاشتو په اوږدو کې د مرستې مستحق ګڼل کیږي. همدغه داخلي بې ځایه شوي وګړي د بشری ادارو څخه اضافي مرستې هم ترلاسه کولی شي، مګر د کیفیت معیارونه په مختلفو سازمانونو کې توپیر لري چې د بشری ګروپ د ماموریت مشخصاتو پورې تړاو لري. په عملي شرایطو کې، دا یوه داسې وضعیت رامنځته کوي، چې مرسته یې بې ځایه کیدنې ته د رسیدلو لپاره نسبتا اسانه ده، مګر د اوږدمهاله حل لارې پیدا کول خورا ستونزمن دي. په ځینو مواردو کې، داخلي بې ځایه شوي کسان د دوی د لومړني بېړنیو مرستو پروګرام په پایله کې د پراختیایی اداري ته لیږدول کیدای شي، مګر دا چاره هم یقیني نده.

دا په ښکاره ډول د پالیسۍ خلا دی، چې ډېر بې ځایه شوی وګړي د اوږدې مودې لپاره د ویجاړونکي مودې لپاره بې ځایه کیږي. په دې قضیه کې ډیری هغه ښځې ښکېل دي چې د دې څېړنې لپاره ورسره مرکې شوې، او ویې ویل چې دوی هېڅ ډول مرستې د حکومت یا نادولتي مؤسسو څخه ندي تر لاسه کړي. یوې میرمنې داسې وویل:

«په لومړیو کې د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت مور سره مرستې وکړې، مګر اوس دوی مرستې نه کوي. دغه دی د ۳ څخه تر ٦ میاشتو پورې کیږي چې هېڅ مرسته یې نده کړې. دوی [چارواکو] وایي چې تاسو داخلي بې ځایه شوي وګړي IDP نه یاست او مور نشو کولای تاسو سره مرسته وکړو. چې تاسو نه یاست، مور نشو کولی ستاسو سره مرسته وکړو. تاسو باید دا ځای ترک کړئ او لاړ شئ ځکه تاسو داخلي بې ځایه شوي وګړي نه یاست. د مرستې لپاره زمور خواته هېڅوک نه راځي.»

په پروګرام کې تشه یا خلیګاه، د داخلي بې ځایه شویو کې د تجربو د بدلونونو لپاره د محاسبې نشتوالی له کبله ده. پداسې حال کې چې ټولې بېځایه کیدنه له ستونزو سره مخامخ ده، مګر بیا هم په هر حال کې په مختلفو کچو کې ستونزې شتون لري. د دې بدلون یوه برخه د داخلي بې ځایه شویو وګړو د بې ځایه کېدو څخه مخکې ژوند برخې پورې تړاو لري(د دوی ټولنیزې شبکې او زده کړې ته لاسرسی په شمول)، چې په یقیني ډوله به هغه برخې چې ځنګه او څه ډول لاسرسی سرپناه، روزګار، تعلیم او روغتیا ته مخکې له بې ځایه کېدنې درلود تر اغېز لاندې راولي. سربېره پر دې، د بدلون او تغیر د برخې په تشریح کې دجندر موضوع مهم رول لوبوي، په داسې حال کې چې ښځې او نارینه د بې ځایه کېدنې تجربه په بېلابېلا ډول ازمایي. (د لازیاتو معلوماتو لپاره لاندې ۴ برخه ولولئ). د بیلګې په توګه، په دې څېړنه کې د میرمنو ډیری برخه، د کم عاید لرونکي کورنیو څخه وې، او د بې ځایه کېدو څخه دمخه کله نا کله بې ځمکې او د محدودې یا هېڅ ډول زده کړې څخه برخمنې وې. پداسې حال کې چې شاید په اړه بشپړه سروې نده تر سره شوې، دا څرګنده ده چې ډیری ښځینه د داخلي بې ځایه کیدو څخه دمخه د ننګونې حالت سره مخ دي، او دا اوسني موجودې ستونزې د دوی په بې ځایه کیدنې سره لا زیاتیږي.

د بشردوستانه او پرمختیایي ادارو ترمنځ یو ډول همغږی ته اړتیا ده، ترڅو په اوږد مهال کې د داخلي بې ځایه شویو وګړو اوږدمهاله اړتیاوو باندې په دوامداره توګه ځان پوه او په نښه یې کړي. په هرصورت، اړونده او زیربطه اداري باید د بېځایه کیدو په صورت کې بدولونونه او توپیرونه په پام کې ونیسي او مطابق ځواب ورته ووایي. د اغېزمنې پالیسۍ د پراختیا لپاره د دې ځانګړې موضوع په اړه لا زیاتو څېړنو ته اړتیا ده

٤. بشري خوندیتوب او امنیت: د افغانستان داخلي بې ځایه شوې ښځې

په دې حقیقت ټینګار کول اړینه خبره ده، چې ښځې د نارینه وو په پرتله د شخړو تجربه په جلا بڼه کوي. د شخړو پرمهال، ښځې او نجونې د جنسي ځورونې او د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالی، د مینډو د مړینې زیاتوالی او زده کړې ته د لاسرسي زیاتو تهدیدونو سره مخ دي. دا خنډونه د پلارواکي ټولنې اوسني خنډونه لا پیاوړي کوي چې د میرمنو په وړاندې د هغې درملنه په اصل کې ځانګړې او نا برابره ده. په ورته ډول، د ښځو فرعي ډلې د شخړو توپیرونه، د دوی د عمر، طبقې او نورو ټولنیزو اقتصادي عواملو پر بنسټ ولاړ او په جلا بڼه یې تجربه کوي. دا ټول عوامل د بې ځایه کیدو په وخت کې د ښځو مخې ته راځي، نو له همدې امله د داخلي بیځایه شویو کسانو مشخصې اړتیاوې حتی په همدغه کمپ کې توپیر لري. نه خو شخړې او نه بې ځایه کیدنه دجندر بې طرفه ده، نو له دې کبله پروګرام نه شیکولی شي جندر بې طرفه وي.

د ملګرو ملتونو په وینا، بشري امنیت د خلکو په منځ کې یوه متمرکزه مفکوره ده چې د نا امني په اړه د پوهې لپاره اړخیزه طرزالعمل دی. د ملګرو ملتونو د بشري امنیت ځانګې راپور، د بشري امنیت تعریف په لاندې توګه کوي:

«بشري امنیت د پراخو ګوابنو په پوهاوي کې شامل دي او د اقتصادي، خوراک، روغتیا، چاپیریال، شخصي، ټولنیزې او سیاسي امنیت پورې اړوند د ناامني په لاملونو کې شامل دی.»

د بشری امنیت دوه اساسي عناصر د ډار آزادي او د غوښتنې آزادي څخه عبارت دي. په ځانګړې ډول، داخلي بې ځایه شوې میرمنې په دې دواړو برخو کې زیان منونکي دي.

١.٤ شخصي امنیت

د ټولنې د خبرو اترو په جریان کې، له میرمنو څخه د دوی په نظر د امنیت په اړه یو لړ پوښتنې تر سره شوې. د بهلګې په ډول، تاسو امنیت څرنګه تعریفوئ؟ *«تاسو څومره ځان خوندي احساسوئ؟»* او *«آیا تاسو د خپل استوګنې په ځای کې ځان خوندي احساسوئ؟»* د میرمنو یوې زیاتې برخې څرګنده کړه چې دوی په خپل اوسني چاپیریال کې ځان خوندي نه احساسوي. نظفیه چې د تخار ولایت تالقان ښار کاسکاپا سیمه کې په یوه کرایي کور کې ژوند کوي داسې وویل:

«زموږ د کلي او وطن په پرتله دلته هر څه ښه دي. د جګړې په شرایطو کې، هرڅه خوندي دي، مګر د غلا په اړه دلته هېڅ شی خوندي نه دی. دلته ډېرې غلا کیږي او موږ یې ډېر اندېښمن کړي یو. د شپې له طرفه ډېرې ستونزې وي، په ځانګړي ډول د ښځو لپاره. کله چې شپه شي غله راځي او هر څه چې لرو، غلا کوي یې.»

په کابل کې د حسین خیل سیمې یوه بله ښځینه اوسېدونکې ورته اندېښنه داسې شریکه کړه:

«موږ امنیت نه لرو. موږ د شپې لخوا ویریږو، چې کیدای شي غل راشي او موږ لوټ کړي. دوی همدغه ویلګرده او لوچک سړي دي، چې شاوخوا ګرځي، غلا کوي او کورونه لوټوي. د شپې په مهال که چیرې امنیتي کسانو ته د مرستې لپاره زنګ ووهې، هغوی د ځان د ویرې له امله نه راځي.»

دا دواړه پورتني مثالونه ښیي، چې که څه هم فزیکي ګواښ شتون نلري، مګر بیا هم دوی د شخصي نا امنیي نور ډولونه تجربه کوي.

١,١,٤ د جنډر پر بنسټ تاوتریخوالی: د کلتوري معافیت اغېز او ننګ

د ملګرو ملتونو په وینا، *«د ښځو او انجونو پر وړاندې تاوتریخوالی، زموږ په ننې نړۍ کې د بشري حقونو څخه تر ټولو پراخه، دوامداره او ویجاړونکې سرغړونه ده.»*

داخلي بې ځایه شوي ښځې، په ځانګړې توګه د کورنۍ سرپرستې، د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالي سره زیاتې مخ دي، ځکه چې دوی د بې ځایه کېدو سره، په ټولنیزو چارو کې د نارینه وو د محافظت څخه بې برخې دي. په هرصورت، د جنسي ځورونې تاوتریخوالي چې د جندر پر بنسټ د تاوتریخوالې (د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالې) یوه بڼه ده، ښایي د بې ځایه کېدنې پر مهال راپیدا او یا هم کچه یې لوړه شي. په داسې حال کې چې کورني تاوتریخوالی په افغانستان کې یوه حرامه او ممنوع چاره ده- د شواهدو سره سره چې دا نسبتا معمولي پیښې دي - په کمپ کې یوې ښځې وویل چې په سیمه کې د بې ځایه کېدنې فشار څرنګه د هغې کورنۍ ژوند اغېزمن کړی دی:

«د بې ځایه کېدنې پر مهال زموږ [نارینه] خپه او تر فشار

د شخړو پرمهال، ښځې او نجونې د جنسي تېري او جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالي له ګوابنونو سره مخ وي، د ښندواری پرمهال د ښندو د مړینې کچه زیاتېږي او په زده کړوکې د نجونو د ګډون کچه ډېره کمېږي.

حسین خیل چې د مېرمنو یو غیر رسمي میشت ځای دی.

د بهارک ټولنیز بحثونه

لاندې وي. که په کور کې څه نه وي، او مونږ د هغو شیانو غوښتنه وکړو چې په کور ورته اړتیا وي، نو هغوی مورږ وهي. هغوی (نارینه) وایي له کومه یې کړو؟ آیا غواړې چې درته راغلا یې کړم؟»

د کلتوري ممانعتونو او تحریمونو له کبله، د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي په اړه راپورونه کم شوي. د دې موضوع د جزوي مخنیوي لپاره کلتوري جزاوې شتون لري، چې په افغانستان کې پراخې دي، په ځانګړې ډول د عزت او شرم مسله. ښځې اکثرا د کلتوری نورمونو د فشار له امله، د جنسي ځورونې جرم مرتکب کوونکي نه افشار کوي، تر څو د ښځې کورنۍ بې عزته نشي. نور وختونه، ښځې مخته نه راوړاندې کیږي، ځکه دوی اکثرا په وخت باور نه لري او د همدې وجهې له امله تر اوسه پورې د بکارت د پردې زیانمن ازمایښت شتون لري، چې یوازې د شرم یا بدترین، ناموس وژنې کلتور پیاوړي کوي.

په عدلي سیستم باندې د اعتماد او باور نشتوالي، د جنډر پر بنسټ د تاوتریخوالي د راپور نه ورکولو بل دلیل دی، چې د مرکه شوو کسانو تر منځ یو عمومي احساس او نظر وو. د مثال په توګه، د حسین خېلو د سیمې یوه اوسېدونکې میرمن، چې د خپل ورک شوي زوی په لټه کې چې په پیداکېدو کې یې ناکامه وه، خپله تجربه په لاندې ډول شریکه کړه.

«ما حکومت ته د خپل ځوی د نادرکې په اړه وویل، مګر هغوی هېڅ ډول مرسته راسره ونکړه. د حکومت په عدلي سیستم هېڅ باور او تکیه نلرم.»

دلته نور ورته مثالونه هم وو، چې له ډلې یې یوې ښځې داسې وویل:

«نه، مورږ هیڅکله هم چاته نه ویلي او نه مو شکایت کړی. حتی که مورږ چېرې شکایت هم وکړو، نو هغوی څه کولای شي؟ هغوی به وایي، مونږ ته وګورئ چې هېڅ قدرت او ځواک نه لرو، نو څنګه کولای شو چې تاسو سره مرسته وکړو؟»

هیڅ د حیرانتیا وړخبره نه ده، چې د کلتوري معافیت او فساد په پام کې نیولو سره چې په افغانستان کې شتون لري، په حکومت کې د واک لوړې او پراخې کچې سره سره بیا هم په ټول هېواد کې په پراخه کچه شتون لري. د دې کلتور اغیز، د قانون حاکمیت باندې هر ډول باور له مینځه وړي او د ټولنې دننه چلند نور هم پیاوړی کوي، پداسې حال کې چې د افغانستان د خلکو تر منځ بدګماني او کینه نوره هم زیاتوي. د بیلګې په توګه، که چېرې یو مشهور جنګسالار د پخوانیو جرمونو لپاره په هیڅ ډول مجازات نه شي، نو بیا به داخلي بې ځایه شوې میرمنې د یو داسې قوي سړي په وړاندې د عدالت غوښتنې کومه هیله ولري ؟

یـوه ښـځه د خپـل میـړه د مړینـې پـه اړه وایـي، د افغـان وسـلوالو ځواکونـو د یـوه غـړي او د حکومتـي چارواکـو د بـې غـوري او نـه پاملرنـې لـه کبلـه د جنـګ پـه میـدان کـې ووژل شـو.

«زما مېړه یـو سرتیـری وو او په خپلـه پوسـته کـې د طالبانـو لـه لـوري ووژل شـو. تـر نـن ورځـې مـا د هغـه جسـد نـدی لیدلـی. کلـه خـو چـې پوښـتنه وکـړه، هغـوی راتـه وویـل، چـې طالبانـو دشـپې مهـال د هغـه پـه پوسـته حملـه وکـړه او لومـړی هغـه تپـي وو، او وروسـته د تپونـو لـه کبلـه مـړ شـو. نـژدې پنځـه کالـه کیـږي. »

کلـه مـو چـې لـه هغـې وپوښـتل چـې آیـا د کـوم شـکایت پـه درج کولـو لاسـبرې شـوې یـا نـه؟ هغـې وویـل *«کلـه مـو چـې دولتـي چارواکـو تـه وویـل، هغـو وویـل "لـه دې ځایـه لاړ شـئ". حکومـت چیرتـه دی؟»*

د عدالـت مسلـې تـه د سـبدو لپـاره یـوه سـاده لاره، د هغـو پروګرامونـو ملاتـړ کـول دي چـې حقوقـي مسـلک کـې د میرمنـو شـمېر زیـات کـړي. دا د ټولـو ښـځو لپـاره عدالـت تـه د مسـاوي لاسرسي پراختیـا ورکولـو لپـاره لومړنـی مهـم ګام دی، پـه ځانګـړي ډول د هغـو میرمنـو لپـاره چـې د حساسـو مسـلو لکـه د جنسـیت پـر بنسـټ تاوتریخوالـی او جنسـي ځورونـې تاوتریخوالـی پـه وړانـدې اغیزمنـې شـوي وي. سربیـره پـر دې، پـه حقوقـي سیسـټم کـې د ښـځینه وو اسـتازیتوب بـه وکـولای شـي، چـې ښـځو پـورې اړونـدو او مهمـو موضوعاتـو تـه مناسـبه پاملرنـه تـرسره شـي او پـه اړه یـې ډاډ تـر لاسـه شـي.

بلـه ممکنـه حـل لاره دا ده، چـې ښـکېلې او زیربطـې اداري او ارځونـه د سـیمه ایـزه سـازمانونو سره لکـه د ظرفیـت لوړولـو او تعلیمـي سـازمان(ACDEO) سره ملګرتیـا او همغـږي تـر سره کـړي. د ظرفیـت لوړولـو او تعلیمـي سـازمان(ACDEO) وار دمخـه د کـورنۍ ملاتـړ پـه برخـه کـې کورنیـو تـه وړیـا مشـورې، قانـوني مشـورې او وړاندیزونـه سـیمه ایـزو ، ټولنیـزو خدماتـو تـه وړانـدې کـوي ؛ کـه چـېرې ورتـه وړاندیـز د بـې ځایـه شـوي میرمنـو لپـاره وړانـدې شـي، کـولای شـي مثبـت اغیـز رامنځتـه کـړي. سربیـره پـردې، د دې ځیړنـې پـه جریـان کـې، د ACDEO سـازمان اسـتازی د بـې ځایـه شـویو لپـاره د پروګرامونـو جوړولـو لپـاره دلچسـپي و ښـودله، د غـوره او سـمو اړیکـو او همغـږي پـه صـورت کـې دا کار رامنځتـه کیـدای شـي.

۲،۱،٤ ښځې، سوله او امنیت

داخلـي بـې ځایـه شـوې میرمنـو بانـدې د سـولې پـه راوسـتلو کـې د میرمنـو رول پـه اړه سروې تـر سره شـوه؛ لـوی اکثریـت یـې یعنـې د پنځـو څخـه څلـور برخـو یـې بـاور درلـود چـې ښـځې بایـد د سـولې پـه پروسـه کـې برخـه واخلـي. ښـځو وویـل، چـې ځرنګـه دوی پـه خپلـو سـیمو کـې سـوله تضمینـوي. یـوې ښـځې چـې د بهـارک کمـپ اوسـېدونکې وه، داسـې وویـل:

مـوږ بـه هغـوی سره مشـوره او خـبرې وکـړو، چـې جګـړه ونـه کـړي ځکـه جکـړه بدمرغـه ده. مـوږ وایـو، مـوږ یـو ورور او یـو خوینـدې یـو.

د حسـین خپلـو د سـیمې یـوې بلـې ځـواب ویونکـې مېرمنـې (د ماشـومانو پـه ژونـد بانـدې د مـور اغیـز) پـه اړه داسـې وویـل:

کـه چېـرې دوه کسـان جګـړه او جنـګ کـوي، د دوی میرمنـې بایـد د دوی پـه مقابـل کـې ودریـږي او د جګـړې نـه کولـو درس ورکـړي. مـوږ بایـد خپـل ماشـومان کینـوو او د جنـګ نـه کولـو درس ورکـړو. زه بـه خپلـو ماشـومانو تـه د جنـګ نـه کولـو نصیحـت وکـړم.

کـه چېـرې میرمنـې حاضـرې وي، دوی کولـی شـي پـه ښـه توګـه سـوله راولـي ځکـه مورګانـې پـه خپلـو زامنـو یـو ډول خـاص اغیـز لـري او خپـل زامـن جنـګ نـه کولـو تـه هڅولـی شـي.

دا بیانونـه او خـبرې ښـيي، چـې ښـځې ځرنګـه کـولای شـي پـه ټولنیـز واحـد کـې د منځګړیتـوب مهارتونـو سره خپـل موقـف وټاکـي، او د شـخړو پـه حـل و فصـل کـې خپلـې مثبتـې پایلـې اغیزمنـې او پـه کار واچـوي.

د بهـارک د کمـپ یـوې بلـې ښـځینه اوسـیدونکې د ښـځو د متـوازن او منځګړیتـوب نظـر پـه اړه چـې د مسـایلو د حـل پـه اړه یـې د میـز سر تـه راوړي وویـل.

د ښـځې پـه شـتون کـې سـړی ښـه وي، ځکـه د سـړي پـه ښـه والـي کـې ښـځه ورسره مرسـته کـوي، مګـر کـه چیـرې یـوازې سـړي وي او ښـځې نـه وي، نـو سـړي تخریبـوي او لـه لارې یـې بـاسي. پـه مثـال کـې یـې طالبـان در واخلـئ.

د هغـې بیـان پـه لنـده توګـه ځرګنـدوي، چـې ځرنګـه ښـځې د مثبـت نفـوذ او تاثیـر اسـتازې کیـدلای شـي. د هغـې پوهـاوی، د هغـه اشـتراکي ګـډون پـه اړه، چـې ښـځې یـې د سـولې پـه پروسـه کـې لوبـوي، ببـا بیـا هغـه نظـر ننګـوي چـې بـې ځایـه شـوې میرمنـې د «قربـاني» پـه توګـه بـولي. بلکـه، دا ښـځې د خپلـو ادارو پـه اړه خـبرې دي او پـه فعالـه توګـه یـې د سـولې د پرمختـګ لپـاره کاروي.

دا ټولـې خـبرې د ښـځو د هغـه مهـم رول پـه اړه، چـې پـه خپلـو کورنیـو او سـیمو کـې یـې د سـولې د تامینولـو لپـاره لوبـوي، پیغـام ورکـوي. برسـېره پـه دې پـه مسـاوي اهمیـت دغـه خـبرې دا رابنـيي، چـې د سـولې جوړونـې پـه برخـه کـې ښـځې ځومـره ځواکمنـې او اغیزناکـه واقـع کیـدا شـي. ځیړنـو ښـودلې، چـې هـر کلـه میرمنـو د سـولې پـه بهیـر کـې رسـمي رول لوبولـی، نـو نتیجـه شـوې تـرون یـې ۳۵٪ سـلنه تقریبـاً د ۱۵ کلونـو لپـاره یـې پایښـت مونـدلی. لـه همـدې کبلـه خـورا مهمـه ده، چـې ښـځې د افغـان سـولې بهیـر کـې یـوه مهمـه برخـه ولوبـوي. ښـځې هـم لېوالتیـا لـري، چـې د سـولې خـبرو کـې فعالـه ونـډه ولـري او کـه چېـرې د دوی حقـوق پـه رښـتیني ډول خونـدي کیـږي، بایـد د ټولـې پروسـې پـه بهیـر کـې غـوره اسـتازیتوب تـر سره کـړي.

پـه پـای کـې، کـه څـه هـم میرمنـې کـولای شـي د تاوتریخـوالي افراطیـت پـه وړانـدې مبـارزه کـې رول ولوبـوي، د ښـځو د حقوقـو مسـله نـه یـوازې د

د دشت قلعه کمپ چې د تاجکستان سرحد سره نږدې دی.

امنیت په ډکر کې تر څار لاندې ونیول شي، ځکه چې دا په آسانۍ سره د CVE وسیله د ښځو حقوق کاروي په داسې حال کې چې دا باید یو لومړیتوب وي.

۳,۱,٤ جغرافیایي حساسیت

د انسانانو د امنیت اساسي عنصر دا دی چې باید مشخص وي. دا په ځانګړې ډول مهمه ده چې د داخلي بېځایه شوو مېرمنو لپاره هم مهمه ده. د میشته کېدو جغرافیه د ښځو په امنیت کې د پام وړ رول لري. په دې ځای کې هغه فکتورونه چې باید په پام کې ونیول شي په سیمه کې وسله والو شخړو زیاتوالی، د ښار له مرکزونو څخه لیرې والی یا له امنیتي پوستو څخه لیرې والي څخه عبارت دي. د کمپونو لیرې والی چې یوه بېلګه یې د بهارک کمپ دی چې د امنیت له مخې ډېر خطرناک بلل کېږي. دا کمپ ډېر لرې دی او هغو سیمو سره نږدې دی چې د طالبانو په واک کې دي.

(مورډ د طالبانو څخه ویره لرو کوم چې د غره له ډډو څخه راځي. د شپې مورډ په سمه توګه خوب نه شو کولی ځکه مورډ ویرېږو چې طالبان به راشي. مورډ د هغوي د ډزو او راکټ غږونه اورو. مورډ له دې ځایه کولی شو چې د طالبانو ببرغونه وګورو).

په افغانستان کې د بهرنیو او ملي ځواکونو شتون هم د ځواب ورکوونکو د امنیت حس سره اړیکه درلوده. د ډېرو لیرې پرتو کمپونو مېرمنې چې له ګوابښ سره ډېري مخ دي، د امنیتي ځواکونو په اړه یې په عمومي ډول او د بهرنیو ځواکونو په اړه یې په ځانګړې ډول مثبت فکر درلود. د بهارک کمپ یوې مېرمنې داسې وویل: *(نه، مورډ نړیوال ځواکونه نه وینو، خو که چېرې بهرني ځواکونه راغلي وی نو مورډ به ډېر خوشحاله وو چې هغوي مو کتلی وی که څه هم د هغوي په ژبه نه پوهېږو. مورډ به ډېر خوښ وو که چېرې هغوي راغلي وی ځکه چې مورډ ډېر نا ارامه او نا امنه یو. طالبان مورډ ځوروي. مورډ داسې احساس کوو چې هغوي به امنیت راولي).*

هغې د افغان وسله والو ځواکونو په اړه مثبت احساسات څرګند کړل:

(زه به څه ووایم، دوي له مورډ سره مرسته کوي او امنیت راولي. دوي د خپلو ځانونو قربانی ورکوي څو مورډ سره مرسته وکړي. دا به ډېره غوره وي چې امنیتي ځواکونه دلته و اوسي.)

له حسین خیلو غیر رسمي میشت ځای څخه یوه بله مېرمن وائي: *(که چېرې یو امنیتي پوسته یا داسې بل څه دلته وي، نو بیا به ډېره په امن کې وم).*

د ملي وسله والو ځواکونو په اړه د ښځو مثبت لیدلوري د اسیا بنسټ د ۲۰۱۷ کال د افغانانو له سروی سره یو شان دی کوم چې د افغان ځواکونو د باور په زیاتوالی کې یو بل ګام دی.[3]

3 The Asia Foundation, '2017 Survey of the Afghan People', 2017.

۲.٤ د خوړو خوندیتوب

د خوړو خوندیتوب هغه وخت رامنځته کېږي کله یو څوک په دوامداره، منظمه توګه داسې خوړو ته لاسرسی ولري چې له غذایي توکو څخه پوره او په کافي مقدار وي چې هر وخت د روغ ژوند ټولو اړتیاو سره سمون ولري[4]. د خوړو د خوندیتوب دوه مهمې برخې له لاسرسي او موجودیت څخه عبارت دي. هغه ټولو مېرمنو له ډلې څخه چې مرکې ورسره وشوې، د خوړو خوندیتوب یو له دریو اندېښنو څخه و *(که څه هم موجودیت یې هم یوه اندېښنه وه خو د هوا له بدلون سره نوره هم جدي کېږي)*، ګمارنه او سرپناه یې نورې لویې اندېښنې وې.

د ډېرنې پرمهال دا هم ولیدل شول چې ډېرى لیرې پراته میشت ځایونو کې چې خلک په کې موقتي سرپناو لکه خیمو یا ویجاړو شوو ودانیو کې ژوند کوي، په لوړه کچه د خوړو له نه خوندیتوب سره مخ دي. په بهارک کمپ کې مېرمنې خپل حالت په لاندې توګه بیانوي:

(مورِ تیل نه شو موندلی نو ژاړو. مورِ اوړه نه لرو، نو ژاړو. که وریجې نه لرو نو ژاړو. مورِ د تودولو لپاره لرګې نه لرو نو ژاړو)

(زما خوري، له زده کړو هم مهم خواړه دي، کله چې امنیت راغی او مورِ خپلو کورونو ته ستانه شو نو بېرته به ښوونځیو ته ځو. اوس زمورِ ستونزه دا ده چې مورِ خوړو ته لاسرسی نه لرو، مورِ وړې یو).

پاکو اوبو ته لاسرسی د خوړو د خوندیتوب په سر کې ځای لري، او دا د ټولنیزو بحثونو پرمهال هم یوه لویه اندېښنه بلل شوې. یو ځل بیا یادونه کوم چې په لیرې پرتو کمپونو کې حالت ډېر خراب و.

(اوبو ته لاسرسی یوه لویه ستونزه ده، خوړو لکه اوړو او غوړو ته لاسرسی یوه ستونزه ده هر څه ډېر ستونزمن دي).

(مورِ اوس په داسې یو حالت کې ژوند کوو چې هېڅ انتخاب نه لرو بې له دې چې لاړ شو او سوال وکړو. مورِ دوکانونو ته ورځو او د خوړو لپاره تري سوال کوو یوائې د دې لپاره چې بچي مو وړې پاتې نه شي)

(له دوه کلونو راهیسې مو غوښه نه ده خوړلې. مورِ وړې یو، مورِ د معدې ستونزې لري او زما له خولې وینه بهېږي).

د خوړو خوندیتوب یوه لویه اندېښنه وه چې د ټولنیزو بحثونو پرمهال د مېرمنو له لورې یاده شوې ده. د ځمکو نه لرل، یا کرنې ته لاسرى، د خوړو خوندیتوب په بنسټیز ډول له نورو سرچینو سره تړاو لري، که هغه مالي وي یا د شتمنیو په ډول، هغه د خوړو لپاره خرڅول کېږي. غریب او ناداره خلک، له دې لارو څخه خوړو ته لاسرسی نه لري. د خوړو خوندیتوب له مالي خوندیتوب څخه ډېر اړین دی کوم چې په کرکېچنو سیمو کې له شخصي خوندیتوب له کمواليِ سره اړیکه لري. دا ټول موضوعات په جلا ډول یو بل سره تړلې دي او د پالیسۍ پرمختیا لپاره اړتیا ده چې د دې ډول ټولو فکتورونو په اړه په هر اړخیز ډول فکر وکړي.

یو وروستی عنصر چې اړتیا ده نور هم و پلټل شي چې څه ډول د کورنۍ رول او په ځانګړې ډول، د چمتو کوونکې په توګه د نارینه رول، د خوړو په خوندیتوب اغېز لري. په افغانستان کې کورني رولونه عنعنوي بڼه لري، خو د زده کړو د کچې او ټولنیز-اقتصادي فکتورونو پورې اړه لري. په کلیوالي سیمو کې، او هغه سیمې چې د زده کړو کچه په کې کمه ده، په عنعنوي توګه ښځو ته د کوچنیانو د پالونکې او نورو کورني کارونو د ترسره کولو په توګه کتل کېږي. له بل پلوه، نارینه، د ګټې راوړونکې وي. دا عنعنوي د جنسیت پر بنسټ مفهوم ښایي د خوړو په خوندیتوب کې د مېرمنو د ونډې پر وړاندې خنډ دی، په ځانګړې ډول، د بېځایه کېدنې د وختونو پرمهال. خو دا د هغو مېرمنو لپاره د فعالیتونو زمینه برابروي چې په غیر عنعنوي توګه په کورنۍ کې د خوړو ګټونکي رول ولوبوي، کوم چې په ډېرې هغه کورنۍ پوښتل شوې دي چې مشرانې یې مېرمنې وې.

۱,۲,٤ د اقلیم بدلون

د خوړو د خوندیتوب یو بل عنصر د هغې موجودیت دی کوم چې نېغ په نېغه د اقلیم له بدلون سره تړاو لري. د اقلیم په ډېرنو کې افغانستان ته له وړاندې د تودوخې د زیاتوالي په اړه خبر ورکړل شوی دی[5]. اوسمهال په هېواد کې د وچکالۍ ګواښونه شتون لري چې په هغې کې غیر معمول د واورو وچ موسم هم شامل دی. دا د ډېناک او همدارنګه نباتاتو لپاره د ابیارۍ اوبو په رسولو باندې منفي اغېز لري کوم چې په پرلپسې توګه د کرنې په حاصلاتو او د خوړو په تولید اغېز لري[6]. دا به تر ټولو ډېر په هغو ناوړه اغېز ولري چې تر ټولو ډېر ورته نږدې وي او په ځانګړې ډول داخلي بېځایه شوې چې له وړاندې د خوړو نه خوندیتوب سره لاس او ګریوان دي.

شاوخوا ٦١٪ افغانان په کرنې باندې د یو عاید په توګه متکي دي او دا هغه شمېره ده چې په دې ډېرنه کې ورته ځای ورکړل شوی دی. په خاص کېه کې میشت ښځې دا واضح کوي چې د ټولنو مشرانو هغوي پستې راوړې وې څو له غوزو یې بېلې کړو او دا یوائیزې کاري بوختیا وه چې د دې میوې د تولید په فصل کې یې شتون درلود.

(مورِ خوشحالېږو چې مورِ ته هغوي کار راکړي. مورِ به تېږي

4 The Food and Agriculture Organization (FAO), 'Rome Declaration on World Food Security. World Food Summit, 13-17 November 1996', n.d.

5 Central Statistics Organization, 'The Afghanistan Living Conditions Survey 2013-2014'

6 USAID, 'Food Assistance Fact Sheet: Afghanistan', 3 April 2018.

هم یو په بل ووهو که چېري له دې لارې موږ وکړی شو چې خپلې کورنۍ ته خواړه او د ژوند نور مصارف چمتو کړو)

کرنه د افغانستان د اقتصاد د ملا تېر دی، همدارنګه دا د هېواد تر ټولو مهم صنعتی دی او هغه څه دي چې ډېر خلک پرې باور لري. ډېر لږ شکونه شتون لري چې د اقلیم بدلون به په هېواد کې اقتصادي فعالیتونه اغېزمن کړي.

۳.٤ روغتیایي خوندیتوب

روغتیا د انسانانو د خوندیتوب یوه مهمه برخه ده چې په هغې کې بشپړه فزیکي، رواني او ټولنیز فعالیتونه شامل دي او یواځې ناروغۍ په کې شامل نه دي[7]. له ځواب ورکوونکو څخه غوښتل شوي وو چې د روغتیایي خدماتو په هکله معلومات وړاندې کړي څو د داخلي بېځایه شوو ښځو پر وړاندې د شته خنډونو په هکله سم پوهاوی ترلاسه شي. د بهارک او دشت قلعه په میشت ځایونو کې د ټولنیزو بحثونو پرمهال، کله چې د روغتیائي خدماتو به هکله پوښتنې وشوې، ډېرو مېرمنو د خپلو ناروغیو په اړه غږ پورته کړ او وړاندیز یې کولو چې دا په ځانګړې ډول یو حساس او د ګواښوونکې موضوع ده. د بهارک میشت ځای یوې مېرمنې داسې وویل:

(زموږ لپاره روغتون په کوم ځای کې دی چې ورشو؟ که چېري موږ هلته ورشو نو بیا به هم دوي زموږ معاینه ونه کړي او نه به کومه دوا راکړي. زما ستونی درد کوي. زه د وینې لوړ فشار ناروغه یم او هېڅ درمل شتون نه لري. موږ پیسې نه لرو نو نه شو کولی چې درملنې لپاره لاړ شو. موږ روغتونونو ته لاسرسی نه لرو).

له ۹ ملیونو ډېر افغانان بنسټیزو روغتیایي خدماتو ته ناکافي یا هېڅ لاسرسی نه لري او دا خو یا د عامې روغتیا سکتور له لورې ناکافي پوښښ له امله دي او د کړکېچونو له امله[8]. مالي ستونزې د دې موضوع یو اړخ دی، یو بل مهم اړخ یې د روغتیایي اسانتیاو جغرافیایي خپریدنه ده، کوم چې لږ او ډېر لیرې دي. دا د کړکېچ په سیمو کې څرګند خنډونه دي، حتی هغوي چې په مالي ډول کولی شي شي سفر وکړي او روغتیا یې هم یو څه ښه ده، د نا امنه سیمو له ګواښونو سره مخ دي.

۱,۳,٤ د حامله مېندو او نوو زېږیدلو ماشومانو پاملرنه

یوه بله د پام وړ موضوع چې د ټولنیزو بحثونو پرمهال مشخص شوې ده د حامله مېندو د پاملرنې په اړه ده. په هر کمپ کې لږ تر لږه یوه حامله مېرمن موجوده وه، چې په ځېنې کمپونو کې یې شمېر زیات وو او دوي ټولو د مېندو لپاره د روغتیا پاملرنو د نه شتون په اړه خبرې وکړې. د بهارک میشت ځای څخه یوه مېرمنې د حامله مېرمنو د اندېښنو په اړه داسې څرګندونې وکړې:

(هغه (یوې مېرمنې ته یې اشاره وکړه) هېڅ خواړه نه شي موندلی چې ویې خورې او ډاکټر ته نه شي تللی، د هغې ماشوم مړ شوی. دوه میاشتې کېږي چې ماشوم یې مړ شوی او ګېډه یې همداسې پړسېږي. هغې د خوړو لپاره غوړې او یا غوښه نه درلوده څو یو څه پیاوړې شي. هغه د اور لپاره خس نه لري څو خپلې پښې پرې تودې وساتي. زموږ په کمپ کې دوه حامله مېرمنې دي او موږ ټول ورته اندېښمن یو چې څه ډول به د هغوي پاملرنه کوو او ډاډ ترلاسه کړو چې هغوي ښې دي).

په دشت قلا میشت ځای کې یوې مېرمنې د خپلو ګوتو په شمېرلو دا وویل چې په خپل لاس اوبدل شوې توکېۍ یې وپلورل څو د خپلې لومړني حمل پرمهال یوه کلینک ته اړینې پیسې برابرې کړي، خو د دویم حمل پرمهال یې ونه کړی شو چې بیا یې ترسره کړي.

(څو وارې، ما یو ماشین واخېسته څو یو څه شیان وګنډم او ویې پلورم. ما دا ډول توکې وګنډل او هغه مې وپلورل او پیسې مې دوه وارې په کلینک کې وکارولې. اوس دا کار په دې مېندوارۍ کې نه شم کولی ځکه چې د شپږو میاشتو امیدواره یم). یوې بلې مېرمنې بیا داسې وویل:

(موږ غواړو چې په کلینک کې بچي وزېږوو، که چېري موږ سره د دې لپاره پیسې وي نو دوي به زموږ لپاره موټر هم راولېږي، خو که چېري پیسې ونه لرو نو دا کیسه به بیا رقم وي. موږ کلینک ته د پیسو د ورکولو لپاره پورونه اخلو تر څو کلینک ته یې ورکړو).

دا ټولې خبرې دا په ډاګه کوي چې د داخلي بځایه شوې مېرمنې د حاملګۍ اړوند روغتیایي اسانتیاو ته په افغانستان کې څومره لاسرسی لري. د نړیوال روغتیایي سازمان (WHO) له مخې په افغانستان کې د مور او نوې زېږیدلې ماشوم د مړینې کچه د سیمې په کچه تر ټولو ډېره ده چې د مړینې تر ټولو لوی لامل یې د وینې بهیدنه ده. په افغانستان کې په ۲۰۱۷ کې د افغانستان ډیموګرافیکي او روغتیائي سروی کې یو دقیقه احصائیه ترلاسه شوې ده چې دا د خپل ډول یواځینۍ څېړنه وه چې په کې معلومه شوه چې په ۱۴ مېرمنو کې یې یوه د مېندوارۍ یا ماشوم د زېږولو پرمهال مرې. د دې مړینو له ډلې ډېري یې کیدی شي چې د سمې پاملرنې په وسیله یې مخنیوی وشي خو پاملرنو ته لاسرسی د ټولو افغانانو او په ځانګړې ډول د داخلي بېځایه شوو لپاره ډېره جدي ستونزه ده.

په دې بحثونو کې دا هم څرګنده شوې ده چې د روغتیایي پاملرنو او مالي خوندیتوب ترمنځ اړیکه شتون لري او د زیاتره داخلي بېځایه شوو مېرمنو لپاره، دا یو ډېر ناممکن خنډ دی. کله چې د سرچینو د چمتو کولو په تړاو خبرې کوو نو خوړو او اوبو ته په

7 WHO | Constitution of WHO: Principles', WHO, accessed 16 May 2018.

8 OCHA, '2017 Humanitarian Needs Overview: Afghanistan', November 2016. Ariel Higgins-Steele et al,

روغتیایي پاملرنو لومړیتوب ورکول کېږي. یواځې لږ شمېر داخلي بېځایه شوي یې دواړه تنظیمولی شي. په ډېرو لیرې پرتو سیمو کې د لارو او تګ راتګ پېچلتیاوې مېرمنو لپاره د روغتیایي پاملرنو ستونزه نوره هم زیاتوي.

د دشت قلعه کمپ کې د یوې مېرمنې خبرې په دې ډول دي:

(هر څوک نا روغ دی او مورږ درمل نه لرو. په دشت قلعه سیمه کې یو کلینک شته خو هغه ډېر لرې دی).

۲,۳,٤ د میاشتینۍ ناروغۍ پرمهال روغتیا

که څه هم میاشتیني ناروغي د ښځو د ژوند یو حقیقت دی، دا یوه داسې موضوع ده چې په ډېرو ټولنو کې پرې بحث نه کېږي چې افغانان هم له دې څخه مستثنی نه دي. په ډېري تعجب سره، یوې مېرمنې د خپل میاشتنۍ ناروغۍ پرمهال د پاکو توکو نه شتون په اړه خبره وکړه. هغې وویل:

(یوه تر ټولو لویه ستونزه چې مورږ یې لرو دا ده چې مورږ د خپل میاشتینۍ ناروغۍ پرمهال پاک توکې نه لرو).

که څه هم هغې وویل چې د هغې خوښې ورته ګواښ وکړ، هغې بیا هم وویل چې هغه مېرمن د خپل ماشوم د ضایع کولو له امله روانې ستونزې لري. دا پېښه نه یواځې دا چې د دې موضوع په ټراو حساسیت، شرم او ملامتیا څرګندوي بلکې د یو رښتیني ستونزې څرګندوونکې هم ده. دا یوه اړتیا ده چې مېرمنې ورته په ډېرو ستونزو پاملرنه را اړوي.

دا مهمه ده چې د پاکو توکو برابرول د مېندو د ښې روغتیا لپاره تر ټولو ښه توکې دي، خو د میاشتینۍ ناروغۍ ستونزه په همدې ځای پای ته نه رسېږي. یوه ستونزه چې داخلي بېځایه شوې ورسره مخ دي، د یو داسې ځای مشخص کول دي چې دوي په کې په پټه او خوندي توګه خپل میاشیتني ناروغیو اړوند چارې ترسره کړي همدارنګه په دې اړه پاکو روانو ته لاسرسی هم یوه ستونزه ده. روانې اوبه شتون نه لري. دا حالت په بهارک میشت ځای کې و، لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه، دغه سیمه ډېره وچه وه چې هېڅ ډول پاکو اوبو ته لاسرسی شتون نه درلود. د څښاک اوبو محدودیت په شرایطو کې د شخصي پاکوالي لپاره د اوبو موجودیت د دوي لپاره له راحته کم نه وي کوم چې ډېر لږ پېښېږي.

د ټولنیز شرم او د ناکافي حل لارو او اسانتیاو د نه شتون له امله، مېرمنې دې ته اړ ایستل کېږي چې په پټه د ځان پاکولو لپاره لیرې ځایونو ته لاړې شي چې له امله یې دوي له بریدونو سره مخ کېږي. دا بېلګه یو ځل بیا د دې موضوعاتو یو بل سره اړیکه په ډاګه کوي او دا چې څنګه دوي یو بل سره اړیکه لري کوم چې په ګډه د داخلي بېځایه شوو مېرمنو لپاره چاپېریال ګواښونکی او ستونزمن کوي. دا فکتورونه په ګډه د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالی او جنسي ځورونه زیاتوي چې دا د ستونزې هغه ژورواليی څرګندوي.

د افغانستان د پاکوالي، اوبو او نظافت پروګرام یوه هیله بخښونکې هڅه ده چې د کلستر ستراتیژۍ او عملیاتي پلان ۲۰۱۸-۲۰۱۹ یوه برخه ده، کوم چې داسې احکام لري چې د دې اړتیاو په مشخص کولو کې به مرسته وکړي. د دې ستونزې هر اړخیزتوب، ته لا هم اړتیا شته.

۳,۳,٤ روانې روغتیا

د دماغي روغتیا د خوندیتوب وروستۍ برخه چې زمورږ د ټولنیزو بحثونو پرمهال رامنځته شوه له رواني روغتیا څخه عبارت وه. لکه څنګه چې په ټوله نړۍ کې معمول دي، رواني روغتیایي ستونزه په افغانستان کې شرم بلل کېږي، دا د یو داسې هېواد لپاره ډېره ویجاړوونکې ده چې په ځانګړې ډول له لسیزو راهیسې په جګړو کې ښکېل وي. رسمي احصائي نه دي راټولې شوې، خو د نړیوال روغتیائي سازمان د اټکل له مخې له یو ملیون څخه ډېر افغانان له رواني ستونزې لري چې ۱.۲ ملیون وګړي یې د رواني بې نظمیو څخه ځورېږي. د نړیوال روغتیائي سازمان له مخې دا شمېرې اټکلي دي او کېدی شي چې رښتیني شمېرې له دې پورته وي. هغه ستونزې چې داخلي بېځایه شوې ورسره مخ دي، دا یوه داسې موضوع ده چې ښایي څوک ورته پاملرنه ونه کړي. زیاتره مېرمنو د خپل خفګان او د ناهیلیتوب په اړه خبرې وکړې:

(مورږ ډېر خواشیني یو چې مورږ خپل کورونه پرې اېښي دي. دې پر مو ډېر اغېز کړی دی او زه حتی نه شم کولی چې په خپلو لمونځونو باندې تمرکز وکړم ما د خپل ځان په ګډون له هر څه څخه لاس اخېستی دی).

(زمورږ ژوند ښه نه دی، مورږ ښه کور نه لرو، هېڅ مو ورځ ښه نه ده)

(ما ډېر وکتل، زه روانې ستونزې لرم. ډېرې وینې مو ولیدلې)

دا تائیدوي چې زیاتره مېرمنې له رواني فشارونو سره مخ شوي دي کله چې له خپلو ځایونو څخه بېځایه شوې دي لکه د ژوند ګواښوونکې شرایط، جنسي ځورونه، د خپلو خپلوانو مړینه. په پایله کې، ډېرې مېرمنې د پوسټ ټراوماتیک بې نظمۍ (PSTD) څخه رنځېږي، خو ډېر لږ تشخیص کېږي، ځکه چې دا د خفګان او اندېښنو نښې لري کوم چې اکثره له (PSTD) سره ټراو لري.

د (PSTD) یوه نښه خفګان او ناهیلیتوب دی چې هره ورځ ورسره داخلي بېځایه شوې مخ کېږي. د یو ناوړه حالت فشار، په ځانګړې ډول کله چې ماشومان په کې دخیل وي، کېدی شي د یو چا په فزیکي او رواني روغتیا اغېز ولري. کله چې بې درملنې پاتې شي، نو د ناهیلیتوب حالت نور هم پیچلی کېږي چې دا بیا مزمن خفګان رامنځته کوي او له هغه ځایه ځانوژنې

ته زمینه برابروي. آرون تي بیک، مشهور اروا پوه او د ځانوژنې د علتونو معلومولو کارپوه دی، چې د هغه په نظر ناهیلیتوب له ځانوژنې سره اړیکه لري. هغه وائي: (کله چې خفګان لرونکي ناروغان په دې باوري شي چې د هغه د ژوند جدي ستونزې کومه حل لاره نه لري، نو دوي د ځانوژنې فکر کوي څو د له زغم وتو حالاتو څخه ځان خلاص کړي). د بیک په اند، ناهیلیتوب د ژور خفګان اساسي ځانګړنه ده او د ژور خفګان او ځانوژنې ترمنځ اړیکه یې بولي.

دا په حقیقت کې په تالقانو کې د یوې ښځې شوې میرمنې حالت هم دی. هغه ۳۰ کلنه وه چې له خپلې مور، پنځو ماشومانو، د کاکا لور او یوې بلې میرمنې سره په یوه کرایه کړې خونه کې اوسیده. هغې وویل چې د کورنۍ د ژغورنې مسؤلیت یې په اوږو دی چې دا یو درونده بار دی او دې فشارونو او ناهیلیو هغه اړ ایستلې چې ځان ته زیان ورسوي. هغې په ډېر زړورتوب سره خپله کیسه شریکه کړه:

(په ما باندې ډېر فشار دی او زه حتی د ځان لپاره هم څه نه شم کولی. یوه شپه، دري واړې بې هوشه شوم او دوي روغتون ته یوړم. څومره به مې بچي روغتون وړي او راوړي؟ دري یا څلور ځلې؟ او زه له دې سره خپل ځان ژوبلوم؟ زما ستونی بندېږي او ماشومانو ته ورځم هغوي ټول بیا ژاړي، خو زما ژبه بنده وي او خبرې نه شم کولی. زه به څه ووایم؟ دا زما د ژوند خفګان دی).

کله چې له هغې وپوښتل شو چې ایا طبي یا رواني مرسته مو ترلاسه کړې ده، هغې وویل چې کله یې طبي درملنې ته اړتیا درلوده نو د درملنې د مصارفو ورکول یوه لویه ستونزه وه چې هغه یې په اقتصادي لحاظ له باره نه شوه وتلی. دا یو ځل بیا د رواني روغتیا او مالي ناخوندیتوب ترمنځ اړیکه په ډاګه کوي، همدارنګه د ناکافي رواني روغتیایي خدماتو د نه موجودیت په اړه په عمومي ډول په ټول افغانستان کې او په ځانګړې ډول داخلي ښځایه شوو لپاره یوه لویه ستونزه ده. دولت په دې وروستیو کې اعلان وکړو چې ۷۰۰ د اروا پوهنې سلاکاران او ۱۰۱ متخصص رواني روغتیا ډاکټران یې روزلي دي خو په افغانستان کې د رواني روغتیا کړکیچ مشخص کړي. خو داخلي ښځایه شوو لپاره دا خالیګاه مخ په زیاتیدو ده، ځکه چې دوي په داسې سیمو کې دي چې هلته د بشري مرستو رسوونکي ډېره پاملرنه بنسټیزو اړتیاو لکه خوړو، اوبو او سرپنا ته کوي. د داخلي ښځایه شوو رواني روغتیا باید د افغانستان حکومت او د تمویلوونکو لپاره د عامې روغتیا یو لومړیتوب وي ځکه چې دا ستونزې ډېره ویجاړونه رامنځته کوي. بې له حیرانتیا، د رواني روغتیا زغمل په ځورونه، تاوتریخوالي، ناوړه فزیکي روغتیا او ټیټ ټولنیز فعالیت ته زمینه برابروي کوم چې هغه ستونزې دي چې د ښځایه کېدنې له امله رامنځته شوې وي چې له دې دوران څخه وتل یې خورا ستونزمن کړې وي.[9]

دا یو څو روغتیایي ستونزې دي د دې څېړنې پرمهال په ډاګه شوې دي. خو دا دې خبرداری ورکوي چې نورې ستونزې هم شتون لري چې د داخلي ښځایه شوو په روغتیایي خوندیتوب پورې تړلې دي لکه جنسي ځورونه، د کورنۍ پلان، ناروغۍ او د عمر پر بنسټ ستونزې په کې شامل دي.

٤.٤ د چاپیریال خوندیتوب

په ټولنیزو بحثونو کې د نړۍ ټولو میرمنو یوه له دریو لویه موضوع له سرپناه څخه عبارت ده. دا د داسې یو نفوس لپاره د حیرانۍ وړ اړتیا نه ده چې له اوږدې مودې راهیسې له خپلو کورونو لېرې وي. ډېرو میرمنو فکر کولو چې د خوندیتوب یې د مناسبو پناځایونو د نه شتون سره نېغه اړیکه لري.

(که چېرې مورِ ځمکه ولرو، نو مورِ به ځانته ځای واخلو او بالاخره به خوندي شو)

(دا به ډېره ښه وي چې حکومت مورِ ته ځمکې راکړي څو مورِ په کې خپل کورونه جوړ کړو او خوندي په کې و اوسېږو).

په فوکس ګروپونو کې زیاتره میرمنې د څو کلونو راهیسې د داخلي ښځایه شوو په توګه ژوند تېر کړی دی چې لږ تر لږه دوه واړې ښځایه شوې یا په ځینې حالاتو کې له دې هم زیات. د ښځایه کېدو دغه تکراري حالات د داخلي ښځایه شوو د اوسنیو حالاتو څرګندوونکي دي چې د اوږدې مودې لپاره ښځایه شوې دي.

د دې لپاره یو شمېر عوامل شته: په مرکو کې، معمول موضوعات د ځمکو پر شخړو پورې تړاو درلود او په ځینې حالاتو کې، د شتمنیو ویجاړیدو سره تړلې وو. یوه میرمن چې عمر یې ۵۰ کاله و، د حسین خیل په کمپ کې یې داسې وویل:

(که چېرې په لوګر کې امن شي، نو زما د ښځه تګ اهمیت به څه وي؟ زه ځمکه نه لرم. کور او ځمکه مې ویجاړ شوې دي. مورِ کور نه لرو چې ورشو. زمورِ کور بمبار شوی دی او په سیمه کې مو طالبان / دعش دي).

په دشت قلعه میشت ځای کې دوه میرمنې چې له پاکستانه ښځه ستنې شوې وې، د نورو ښځه ستنیدونکو په څېر، بالاخره داخلي ښځایه شوو کې راغلې. د ټېرو ځواب ورکوونکو په څېر ، دا میرمنې خپلو اصلي سیمو ته نه شوې ستنیدی ځکه چې یو چا یې ځمکه ترې اخېستې وه.

(ځینې ازبکانو زمورِ ځمکه راڅخه واخېسته. هو مورِ څو واړې دولت ته عریضه وکړه څو مرسته ترلاسه کړو خو هېڅ مرسته مو ترلاسه نه کړه دا ښلګه په داګه کوي چې یوه بله ستونزه

9 Barbara Lopes Cardozo et al., 'Mental Health, Social Function, and Disability in Postwar Afghanistan', 4

چې داخلي بېځايه شوې ورسره مخ دي چې هغه د ځمکو غصب دی.)

د کلونو ناسوبتيا څخه وروسته او په ځينې حالاتو کې د لسيزو له ناسوبتيا څخه وروسته ځينې داخلي بېځايه شوې خپلو سيمو ته ورځي څو معلومات وکړي چې شتمني او ځمکه خو به يې چا نه وي غصب کړي. د شتمنيو د رسمي اسناددو نه شتون او د حکومت کمزورى ميکانيزم دا داخلي بېځايه شوو لپاره نور هم ستونزمنوي څو خپلې ځمکې بېرته ترلاسه کوي کوم چې د هغوي د بېځايه کېدنې موده نوره هم ځنډوي او په برياليۍ توګه د بېرته ستنيدو مخه يې نيسي.

يوه بله پېښه چې داخلي بېځايه شوې ورسره مخ کېږي يا ترې ګوابل کېږي. د حسين خېل ميشت ځای کابل څخه مېرمنې داسې خبرې کوي:

(نه، زه ځان خوندي نه احساسوم. بله ورځ يې راته وويل چې مورږ به لېرې جلال آباد ته ولېږي. دغه ختين کور چې زه په کې اوس اوسېږم چې چت يې هم په سم حالت کې نه دی. زه به خونښ يم چې دلته واوسم خو هغوي به مو دلته هم ژوند کولو ته پرېنږدي).

(د شتمنيو مالکان چې د دې ميشت شاوخوا يې ودانۍ جوړې کړې دی غواړي چې مورږ له دې ځايه وشړي او دا ځای غصب کړي).

په بهارک کمپ کې چې دې ته ورته ستونزو سره مخ وه خپلې ستونزې داسې بيان کړي:

(د تخار والي مورږ ته وويل چې يو قومندان ورته ويلي دي چې مورږ بايد دغه ځای خالي کړو ځکه چې دا خمکه يې له وړاندې ويشلې ده. د کليو د پراختيا وزير هم مورږ ته وويل چې مورږ کولی شو چې په خيمو کې واوسېږو خو کورونه پرې نه شو جوړولی ځکه چې دا د نورو خلکو ځمکه ده. دوي به مورږ ته اجازه رانکړي چې دلته يو څه جوړ کړو او مورږ کافي پيسې هم نه لرو چې ځانته ځای کرايه کړو نو هېڅ تاکنه نه لرو بې له دې چې په همدې کمپ کې پاتې شو) .

که څه هم د لېرې کولو اغېز څرګند دی، يو اړخ چې ښايي له رواني روغتيا سره اړه لري د ژوند کولو مصارف دي چې په دې شرايطو کې يې کوي. له ځايونو څخه د شړل کېدو اندېښنه او وېره او په اړه د مرستو نه شتون له املې داخلي بېځايه شوې ډېر کړېږي. له ځايونو څخه د شړل کېدو او خفګان او رواني فشار سره اړيکه په ډېره ښه توګه ثابته شوې ده چې دا نښې يې ډېرې په ښځو کې ليدل کېږي. دا ستونزې د رواني روغتيا کړکېچ نور هم زياتوي کوم چې داخلي بېځايه شوې ورسره مخ دي او لکه څنګه چې مخکې يادونه شوې، د بېځايه کېدنې په زياتوالي کې رول لري.

۱,٤,٤ د ځمکو امنيت او تذکره

د پورته بيانيو څخه د يو ثبوت په توګه چې له مرکه کوونکو څخه ترلاسه شوي دي، ځمکو ته لاسرسی يو لوی خنډ دی چې د اوږدمهال بېځايه کېدنې د حل پر وړاندې بلل کېږي. د ځمکو موضوع يوه بله پېچلې موضوع ده چې ډېر خلک ورسره مخ شوې دي او يوه داسې موضوع ده چې په افغانستان کې له ډېر وخت راهيسې د رواني فشار او شخړو لامل دی. يو شمېر فکتورونو د شتمنۍ جوړول زيات شوې دي چې له املې کرنيزې ځمکې کمې شوې دي، نفوس زيات شوی دی چې د ښارونو په پراخيدو کې يې رول لوبولی دی. دا چې دا هېواد په کرنه ډېر متکي دی *(د قانوني او غير قانوني کښتونو له پلوه)*، د غربت زياتوالی هغه څه دي چې حاصلخېزه ځمکې شتون ته اړتيا يې بېخې ډېره کړې ده.

د ځمکې ملکيت نېغ په نېغه پرمختللې سرپنا او د خوړو خوندیتوب سره اړيکه لري. که چېرې د ځمکې اندازه کافي وي، د کرنې په وسيله کېدی شي د يوې کورنۍ د ژوند چارې پرې پر مخ لاړې شي او دا کولی شي چې د سيمه اقتصاد ګټې د دندو په رامنځته کولو کې وړاندې کړي.

د ښځو لپاره، د ځمکې د ملکيت ګټې ډېرې دي او د ښه روغتيا او غوره زده کړو ګټې هم په کې شامل دي، حتی داسې وړانديز هم کېږي چې هغه مېرمنې چې د ځمکو مالکانې دي اته ځله د کورنۍ تاوتريخوالي سره کم مخ کېږي.[43]

په همدې اساس دا ډېره مهمه ده چې هغه مېرمنې چې د ځمکو د مالکيت حق لري، هغه ساتلی شي او کنه. په افغانستان کې، د رسمي اسنادو کموالی يو لوی خنډ دی او دا هغه موضوع ده چې په غير مستقيمه توګه په داخلي بېځايه شوو مېرمنو اغېز لري.

د سرپناه، ځمکې او شتمنۍ حقوق د کافي شخصي اسنادو لکه د زېږيدنې تصديق، د نکاح پاڼې، تذکرو او نورو او همدارنګه د ځمکې اړوند اسناد لکه قباله، رسمي ملکيت او نورو پورې تړلی وي. د دې اسنادو نه شتون د سرپناه، ځمکې او شتمنۍ حقوقو اړتيا پر وړاندې خنډ دی بې له دې چې د ادعا قانونيت ته پام وشي. دا په ځانګړې ډول د داخلي بېځايه شوو لپاره جدي ستونزه ده چې د خپلو شتمنيو په موندلو کې چې نورو نيولې وي له شخړو سره مخ کېږي.

دداخلي بېځايه شويو په کمپونو کې د تذکرو په اړه د پوښتنې لپاره ګډ حوابونه موجد ؤړ ځينې ميرمنو سره تذکرې دي خو ځينې ميرمنو سره تذکرې نه وي. يوې ميرمنې داسې وويل چې د خپلې سيمې د پريښودو پر مهال، تذکره يې د هغې ، فکر له مخې نه ثبت ش کېدي.

مورِ له طالبانو سره ډيرې ستونزې درلودې او دا هغه څه وو چې مورِ يې په اړه فکر نه ؤ کړي، يو ځل بيا دا د داخلي بيځايه شوو لپاره اسانه نده چې د هغوي د بېځايه کيدو په اړه د ژوند او مرګ له پريکړو سره مخ شي. په دې حالاتو کې د اړينو اسنادو تر لاسه کول دومره لوی لومړيتوب ندي. يوې مېرمنې همدارنګه په ډاګه کړل چې د جنسيت له پلوه توپيرونه شتون لري کله چې خبره د اسنادو د ساتلو شي.

زمورِ نارينه تذکرې ځکه چې هغوی تذکي په خپلو جيبونو کې ګرځوي څو هر وخت ورسره وي. مورِ يې عموما په کورونو کې پريږدو.

ددې پر تيراؤ يې څوک کولي شي تذکره تر لاسه کړي او نه کوم ځای څخه مختلف پوهاوي شتون درلود. ځينې مېرمني پدې اړه ډاډه نه وي چې کوم ماشومان چې په کمپ کې زيږيدلي دي هغوي به تذکره تر لاسه کړي شي او که نه او حتی حينې ميرمني پدي هم نه پوهيدي چې نجوني او هلکان دواړه تر لاسه کولي شي اوکه نه لاندې خبر اتري د دغو ميرمنو کنفيوژن څرګندوی.

که چېرته دوی په کمپ کې زيږيدلي وي که هلک وي نجلی تذکره بۀ تر لاسه نکړي.

نه مورِ نشو کولای چې هغو نته تذکری تر لاسه کړو

مورِ چېرته ورشو او تر لاسه يې کړو

د وضاحت نه شتون يوه ستونزه ده او وړاندیز کېږي چې د عامه پوهاوي يو کمپاين ته اړتيا ده څو خلک پوه شي چې د اړينو ملکي اسنادو لرل څومره مهم دي. د سرپناه ځمکې او شتمنی سر ببره هغه خلک چې ملي تذکري نلري نو ښايي د قانوني او روغتيايي خدماتو د ماشومانو لپاره د زده کړو او نورو مرستو په تر لاسه کولو کې ستونزي ولري. يوه تذکره کولی شي په حيرانوونکي توګه د ميرمېن په ژوند بآنديِ اغيز ولري ځکه چې پدې سره د ځمکې ملکيت او نورو ګټو امکان پيداکېږي او هغه خدماتو ملاتړ کو يچې له ددې سره د اوږد مهاله بېځايه کيدنې په پای ته رسولو کې مرسته کوي.

د هويت د اسنادو د اهميت په اړه د پوهاوي زياتولي او ددې ډول اسانتياو چمتو کول بايد دافغان دولت د لومړيتوب په پاملرنو کې ځای ولري او کنه، په ځانګړې ډول کله چې دا موضوع د داخلي بېځايه شوو په اړه وي. داد بېځايه کېدنې دوران ، ماتولو او د بېځايه شوو د غربت د له منځه وړو لپاره مهم ويز همدارنګه د يادونې وړ ده چې زياتره بېځايه شوي يو شان لوژيستکي او مالي محدوديتونو سره مخ کېږي چې په دې څېرنه کې په بل ځای کې نور خنډونه لکه د دولت بې شانه پاليسي او اداري فشار کوم چې د ملکي اسنادو په تر لاسه کولو کې ددی وړتيا نوره هم کموي.

۵.٤ اقتصادي خوندیتوب:

داخلي بېځايه شوو دا څرګنده کړې ده چې بې روزګاري د دوی د ژوند تر ټولو ستره ستونزه ده او دا د بېځايه کېدنې مودې ته له پاملرنې پرته په ټولو تطبيق وړ ده.

زموم سړي تل له کوره بهر وي او د کارونو په لټه کې وي خو ځينې وختونه هېڅه کار ورته نه پيداکيږي زه هغه ته وايم چې هڅه وکړي ځان ته کار پيدا کړي. هغه ښېرته راځي او ماته په ژړا وايئ ای ښځي هېڅ کار نشته، هېڅ تاکنه نلرم، ستونزه داده هغه بلي خوا ته نشم تللی ځکه چې هلته طالبان دي. د پخوا هم نشم تللي ځکه هلته ار نشته.

دا په ټول کې د ټول افغانانو ستونزه ده چې بې روګاري او بمه لويه ننګونه يادە کړي ده نا امني يې لومړنۍ ننګونه بللې ده کوم چ ېد سبا بنسټ په اوسنۍ څېړنه کې ترې يادونه شوي ده. د احصائيوي معلوماتو له مخې د بې روګارۍ کچه ۲۳.۹% ده چې د ځوانانو د بې روزګارۍ کچه يې زياته ده.

د يوه بېځايه شوي لپاره دنده هغه ته خواړه برابروي او که نه، دا په يوه خيمه يا کرائي شوي کور کې ژوند کولو پورې اړه لري دا دې پورې اړه لري چې انتخاب وکړي چې ژوند ګوابنوونکي ستونزو په وړاندې روغيائي خدماتو ته لاسرسي لري او که نه. په دې برخه کې بې روګاري ډېره خوا شينوونکې ده او دې ښځو لپاره کوم خوندیتوب هم شتون نلري لاندې خبري اتري دا په ښۀ توګه څرګندی.

مورِ دندي نلرو پدي معنی چې د کرايه ورکولو لپاره پيسي نلرو

مورِ پيسې نلرو چې يو ه کيلو غوښه پريواخلو مورِ وي يو

